د لوړو زدکړو وزارت

د کابل پوهنتون

د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجی انسټیټوټ

د مخابراتو ډیپارټمینټ

# VoIP شبکې او درلودونکې ستونزې

Ketabton.com

لیکوال: محمد اکبر درانی

لارښود استاد: پوهیالی عبدالبصیر سهیل

د فراغت کال: ۱۳۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ليکنه

د VoIP شبکو رامنځته کيدلاو درلودونکی ستونزی تر عنوان لاندی

د محمد اکبر دراني له لوري ليکل شوی.

د لارښود استاد پوهيالي عبدالبصير سهيل

---------------------------------------------------

او د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجی انستيټوټ رئيس

ښاغلی انجنيرعطا محمد ياري

---------------------------------------------------

له نظره د منلو وړ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لنډيز

که په اوسنيو وختونو کی وګورو، معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجي په ډير ې چټکتيا سره د پرمختګ په لور روانه ده، او که نور هم ځير شو ټولی مخابراتي ټکنالوجيانی او مخابراتي شبکی په معلوماتي شبکو يا Data networks د تبديليدو په حال کی دي. دا هغه شبکی دي چی بنسټ يی په Internet Protocol (IP)ولاړ دی او د IP پر بنسټ راکړه ورکړه کوي.

لکه څرنګه چی مخکی يادونه وشوه چي، مخابراتي شبکی په معلوماتي شبکو ته د تبديليدو په حال‌ت کی دي نو که موږ GSM او CDMA شبکو ته وګورو او ځير شو چی د مخابراتو په برخه کی ډيری لويی ټکنالوجيانی او سيسټمونه دي چی ټولی لويی مخابراتي شبکی له دی سيسټمونو څخه ګټه اخلي نو هم‌دا سيسټمونه خپله د تبديليدو په حال کی ډيټا شبکو ته دي تر څو د دی شبکو بنسټ هم IP وګرځي چی د دی ټکنالوجيو په اوسنيو نسلونو کی په ځينی ځايو کی يا په بعضی لينکونو کی د IP څخه ګټه اخيستل کيږي او د IP پواسطه له يو بل سره نښتي دي . بله دا چی که موږ د دريم نسل ټکنالوجيو ته وګورو لکه Universal Mobile Telecommunication System (UMTS) او Code Division Multiple Access 2000 (CDMA 2000) ته دا هغه ټکنالوجيانی دي چی په بشپړ توګه IP بنسټيزی دي يعنی په ټولو لينکونو کی يی د IP څخه ګټه اخيستل شوی. نو له همدی کبله می وغوښتل چی خپل تحقيق په VoIP کی وکړم او تر سره يی کړم، او بل دا چی زما خپله مينه او علاقه د IP بنسټيزو شبکو سره ده او دا هم ده چی د يو مخابراتو د انجنير په حيث دا ډيره اړينه ده چی په VoIP ټکنالوجی په ښه توګه پوه شم ځکه چی په راتلونکو مخابراتي شبکو کی به له دی ټکنالوجی څخه ګټه پورته کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


د شکلونو لیست ........................................................................................vi
د جدولونو لیست ......................................................................................vi
سریزه ....................................................................................................vii
اختصارات ..............................................................................................ix
لومړی ځپرکی: د VoIP پېژندنه ....................................................................1
۱.۱ د VoIP تاریخچه ....................................................................................1
۱.۲ د VoIP شبکو لومړی نسل ........................................................................4
۱.۳ د VoIP شبکو دوهم نسل ..........................................................................6
۱.۴ د VoIPشبکو دریم نسل ............................................................................6
دوهم ځپرکی: د VoIP بنستیز مفاهیم ............................................................8
۲.۱ د VoIPبنستیز مفاهیم ..............................................................................8
۲.۲ Internet Protocol (IP) ..........................................................................8
۲.۲.۱ د IP نسلونه یا ورژنونه ...........................................................................9
۲.۲.۲ Internet Protocol version 4 ..................................................................9
۲.۲.۳ Internet Protocol version 6 ..................................................................10
۲.۳ سیګنلینګ (Signaling) ............................................................................10
۲.۳.۱ دVoIP سیګنلینګ ځینی مشهور او مهم پروتوکولونه او د هغو د جوړیدو اصلي نیته ..................12
۲.۳.۲ H.323 ستنډرډ .....................................................................................13
۲.۳.۲.۱ د H.323 عناصر ..................................................................................14
۲.۳.۲.۲ ترمینلونه ...........................................................................................15
۲.۳.۲.۳ د H.323 ترمینل جوړښت ......................................................................16
۲.۳.۲.۴ Gateways ........................................................................................17
۲.۳.۲.۵ Gatekeeper یا کنترول کوونکي ...............................................................17
۲.۳.۲.۵.۱ د Gatekeeper لازمي دندی ..................................................................18
۲.۳.۲.۵.۲ د Gatekeeper اختیاري دندی او خدمتونه .................................................18
۲.۳.۲.۶ Multipoint Control Unit (MCU) ..........................................................19
۲.۳.۳ Session Initiation Protocol (SIP) .........................................................22
۲.۳.۳.۱ د SIP پیژندنه ....................................................................................22
۲.۳.۳.۲ د SIP اړینی برخی یا عناصر .....................................................................24

(c) ketabton.com: The Digital Library


۲.۳.۳.۲.۱ Proxy سرور ........ 25
۲.۳.۳.۲.۲ Location سرور ........ 25
۲.۳.۳.۲.۳ Redirect سرور ........ 26
۲.۳.۳.۲.۴ Registrar سرور ........ 26
۲.۳.۳.۳د SIP پیغامونه یا SIP Messages ........ 26
۲.۳.۳.۴ د SIP پروټوکول کارکړنه په داخل د ساحه (شبکه) کی ........ 29
۲.۳.۴ MGCP/MEGACO ........ 30
۲.۳.۴.۱ په MGCP/MEGACO کی د ډیټا جوړښتونه ........ 32
دریم ځپرک: د VoIPدرلودونکي ستونزې ........ 34
۳.۱ د VoIPدرلودونکې ستونزې ........ 34
۳.۱.۱ Network Address Translation ........ 35
۳.۲.۲ د خدمتونو ځرنګوالی یایا Quality of Service (QoS ........ 35
۳.۱.۲.۱ Latency یا ځنډ ........ 36
۳.۱.۲.۲ د معلوماتو دقیق لیږد یا Accurate delivery ........ 37
۳.۱.۲.۳ د پکیټونو ورکیدل یاPacket loss ........ 37
۳.۱.۲.۴ Bandwidth ........ 38
۳.۱.۲.۵ Jitter ........ 39
۳.۱.۲.۶ Reliability ........ 40
۳.۱.۲.۷ Security یا امنیت ........ 40
څلورم ځپرکی: پایله ........ 42
مناقشه ........ 47
سرچینې یا ماخذونه ........ 50

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شکلونو لیست

[۱.۱] د مرکبو ټکنالوجۍ چاپېریال یا محیط ......................................................................5
[۲.۱] د VoIP د پروټوکولونو عمومي جوړښت ..............................................................12
[۲.۲] د H.323 پروټوکول جوړښت ..........................................................................14
[۲.۳] د H.323 پروټوکول عناصر ............................................................................15
[۲.۴] د H.323 پروټوکول د ترمینل جوړښت ..............................................................16
[۲.۵] د H.323 پروټوکول پواسطه اړیکه نیول ............................................................19
[۲.۶] د SIP پروټوکول د شبکې جوړښت ...................................................................25
[۲.۷] د MEGACO/MGCP پروټوکول وسایل ..............................................................33

## د جدولونو لیست

[۱.۱] د VoIP پرمختګ په سوداګریزه کچه ..................................................................2
[۲.۱] د VoIP د سیګنلینګ پر مخ تللي پروټوکولونه او د هغوی جوړونکي او د جوړېدو نیټه ......................12

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه

د غږ لیږد د Internet Protocol (IP) پواسطه یا Voice over Internet Protocol (VoIP) په رامنځ ته کیدلو سره د مخابراتي ټکنالوجۍ په نړۍ کی د پام وړ بدلون رامنځ ته شو چی دی بدلون نه یوازی په مخابراتي نړۍ کی، بلکه په نورو چارو کی یی هم مهم او اړین رول لرلی دی، لکه په سوداګریزی برخه کی، ټولنیزی برخه کی، سیاسي برخه کی، ښوونیزی برخه کی، ر وغتیایی برخه کی او بلآخره د ژوندانه په ټولو چارو کی آسانتیاوی او د پام وړ بدلونونه راوستل چی ساری یی په پخوانیو انلاګ Public Switched Telephone Network (PSTN) او ډیجیټل Integrated Services Digital Network (ISDN) ټکنالوجیو او سیستمونو کی نه لیدل کیږي.

چی اصلاً دا بدلون دهغه وخت څخه پیل شو کله چی د غږ لیږد د پکیټ پواسطه یا Voice over Packet (VoP) په اړوند مطالعات او څیړنی په ۱۹۷۰ ز لسیزی کی پیل شوی . په هغه وخت کی چی دا څیړنی پیل شوی غږ د PSTN شبکو پواسطه لیږدول کیدو، چی انلاګ شبکی وی او د Circuit Switching له تخنیک څخه یی ګټه اخیستله.

سرکیټ سوچینګ چی یو پخوانی تخنیک دی د غږ د لیږلو لپاره او په پخوانیو شبکو کی ترینه ګټه اخیستل کیده،چی په دی تخنیک کی مخکی له مخکی یو چینل یا مدار د دوو لوریو تر منځ په ځانګړي توګه اختصاص شوی دی که ګټه اخیستونکی تری ګټه اخلي او که یی ترینه نه اخلي یو مشخص او معین ظرفیت ورته په دایمی توګه ورکړل شوی دی. چی دا کار یی لامل د دی کیږي ترڅو شبکه یو لوړ ظرفیت ولري چی له اقتصادي نظره ډیر ګران پریوځی او بل دا چی Bandwidth پکی ضائع کیږي چی د دی دوو نواقصو په درلودو سره یی خپل محبوبیت له لاسه ورکړی او په اوسنیو شبکو کی تری ګټه نه اخیستل کیږي . خو د VoIP په رامنځته کیدو چی اصلاً VoP دی، سره زیات تغیرات په ټلیفوني اړیکو کی رامنځته شوي، دا ځکه چی VoIP د Packet Switching څخه ګټه اخلي چی پدی تخنیک کی لمړی چی انلاګ سیګنلونه دي Analog-to-Digital Converter پواسطه په ډیجیټل سیګنل بدلیږي، چی ډیجیټل سیګنل د Noise په مقابل کی ډیر مصئون دی او په آسانۍ سره له یو شکل څخه بل ته تبدیلیدلی شي . چی وروسته دا Digital data په وړو برخو یا Packets ویشل کیږي او مقصد یا مقابل لوري ته لیږل کیږي، پدی تخنیک کی یو لنډ مهاله چینل یا مدار د دوو لوریو تر منځ پرانیستل کیږي او وروسته د اړیکی له پری کیدو څخه ورکړ شوی چینل تری اخیستل کیږي د نورو اړیکو په موخه، دا تخنیک چی په اوسنیو ټکنالوجیو کی تری کټه پورته کیږي پدی کی د Bandwidth د ضایع کیدو څخه په ډیره کچه مخنیوی کیږي او بل یادی شوی پورتنی ګټی پکی موجودی دي چی لامل د محبوبیت اوپرمختګ د VoIP ټکنالوجۍ شوی.

VoIP نه یوازی پورتنی آسانتیاوی منځ ته راوړي دي له دی سره سره کولای شو چی په ډیر آسانی سره ویډیویی خبری وکړو (په کنفرانسي توګه او یا یوازی د دوو نقطو ترمنځ) او د غږ سره نور معلومات یا Data هم یو ځای او په یو وخت کی ولیږو او په اړیکو باندی پوره کنټرول ولرو. VoIP نور خدمتونه او وړتیاوی هم لري چی د VoIP هغوپروټوکولونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلآخره VoIP سره د دی ګټو چی لري ځینی ستونزی هم لري چی باید په نظرکی ونیول شي چی امنیتي ستونزی، تخنیکي ستونزی او اقتصادي ستونزی چی د ټکنالوجي په پلی کولو کی یی لري. په پای کی پدی تحقیق کی چی د VoIP په رامنځته کیدو یا د رامنځته کیدو په څرنګوالي، په بنسټ یزو مفاهیمو چی د VoIP څلور پروټوکولونه چی دوه یی ډیر مهم او اړین دي په برکی نیسي او په پای کی هغه ستونزی چی پوری تړاو لري چی VoIP کی تری ګټه اخیستل کیږي. په VoIP کی شتون لري تر بحث لاندی ونیسم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اختصارات

| | |
|---|---|
| CODEC: | Coder/Decoder |
| DAC: | Digital to Analog Converter |
| DHCP: | Dynamic Host Configuration Protocol |
| DNS: | Domain Name System |
| DSL: | Digital Subscriber Line |
| FTP: | File Transfer Protocol |
| HTTP: | Hypertext Transfer Protocol |
| IANA: | Internet Assigned Numbers Authority |
| IETF: | Internet Engineering Task Force |
| IP: | Internet Protocol |
| ISDN: | Integrated Services Digital Network |
| ITU: | International Telecommunication Union |
| LAN: | Local Area Network |
| MCU: | Multipoint Control Unit |
| MGCP: | Media Gateway Control Protocol |
| MPLS: | Multipoint Label Switching |
| NAT: | Network Address Translation |
| PBX: | Private Branch Exchange |
| PSTN: | Public Switched Telephone Network |
| RFC: | Request for Comment |
| RVSP: | Resource Reservation Protocol |
| RTP: | Real-time Transport Protocol |
| RTCP: | Real-time Control Protocol |
| QoS: | Quality of Service |
| SIP: | Session Initiation Protocol. |
| SRTP: | Secure Real Time Protocol. |
| SSH: | Secure Shell. |
| SS7: | Signaling System number 7. |
| TCP: | Transmission Control Protocol. |
| TDM: | Time Division Multiplexing. |
| UA: | User Agent. |
| UAC: | User Agent Client. |
| UAS: | User Agent Server. |
| UDP: | User Datagram Protocol. |
| VoIP: | Voice over Internet Protocol |

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لمړی څپرکی

## د VoIP پیژندنه

### ۱.۱ د VoIP تاریخچه

غږ د پکیټ پواسطه یا Voice over Packet (VoP) په عمومی توګه، او غږ د IP پواسطه یا Voice over Internet Protocol (VoIP) په ځانګړی توګه په اړه مطالعات او څیړنی په ۱۹۷۰ ز لسیزی کی پیل شوی. په حقیقت کی د غږ او د ویډیو لیږد د پکیټ پواسطه تر ۱۹۹۰ ز کال پوری په داسی ډول وو چی د مخکی څخه ذخیره شوی وه او یو اړخیز شکل یی درلود چی په متقابل یا حقیقی توګه نه وه او یا هم د یو اړخ لیږد لاری پواسطه د ډیر زیات ځنډ سره وه، لکه انټرنټي راډیو. دا هغه وخت وه چی د اړیکو ټکنالوجي د پرمختګ پر لور یو نوی ا و د پام وړ ګام کیښودو چی د Packet based اړیکو پر لور روانی وی، پدی اړیکو کی د مختلفو ټکنالوجیو او میډیاګانو یوځای کیدل او هم غږي کیدل ډیر اړین وه چی د پام وړ آسانتیاوی یی د مختلفو شبکو لپاره رامنځ ته کړی ترڅو د غږ او ویډیو لیږل په سوداګیزه کچه وړاندی کړي او دا یوځای شوی شبکی چی د پورتنیو ځانګړتیاوو پر بنسټ وی دا خدمتونه او آسانتیاوی برابری کړي تر څو یو ګټه اخیستونکی وکولای شي غږ، ویډیو، تصویر او ډیټا یوځای په هر وخت کی، هر ځای کی تر لاسه کړي یا ولیږي.[1]

دا پرمختګ د Digital Signaling Process (DSP) ټکنالوجي د رامنځ ته کیدلو سره چی د غږ او ویډیو کمپریس کول وه په ۱۹۸۰ ز لسیزی کی پیل شول ، او د مختلفو میډیاګانو لیږل د پکیټ پواسطه دواړو دا وړتیاوی ټکنالوجیو ته ورکړلی تر څو په نړۍ کی خپل ځای ترلاسه کړي .VoIP خدمتونو او ټکنالوجیو په سودا ګریزه توګه په ۲۰۰۰ ز کال کی څرګنده شولی چی د مخابراتو لمړی نسل وه او پدی نسل کی راغلی، چی وروسته نورو ټکنالوجیو او شبکو ځانته د VoIP شکل ونیوه لکه پخوانیو انلاګ (PSTN) او ډیجټل (ISDN) شبکو چی مختلفی ټکنالوجیانی په بر کی له ځانه سره نیسي او د ټکنالوجیو دوهم نسل بلل کیږي، در یم نسل د ټکنالوجیو چی په ځینی هیوادونو کی د ټکنالوجي راتلونکی نسل بلل کیږي او په ځینو کی پلي شوی دی چی تقریباً په ټولو برخو کی د IP نه ګټه اخیستل کیږي.[2]

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظر په یو آسترالیایی دولتي انټرنیټي خپرونی په VoIP کی د پام وړ سوداګریز پرمختګ او بدلون دوهم نسل د ټکنالوجي بلل کیږي چې په کال ۲۰۰۶ ز کی وه. چې د همدی کال نه تر اوسه پوری VoIP په برخه کی ډیر زیات او د پام وړ بدلون راغلي دي.[3]

په لاندی شکل کی دا بدلون او پرمختګ ښودل شوی دی.

[۱.۱] جدول، د VoIP پرمختګ په سوداګریزه کچه




په پورتني شکل کی که موږ وګورو نو د VoIP پرمختګ په ډیره واضح توګه ښکاري چې څومره پرمختګ یی کړی دی د عوایدو له نظره چې د د ۲۰۰۶ ز کال څخه پیل او د ۲۰۱۱ ز کال تر پایه پوری په کال کی دا عواید د عامو وګړو په برخه کی شا وخوا ۳،۵ میلیارد او په سوداګریزه کچه تر دری میلیارد امریکایی ډالرو ته رسیږي چې ژیره کرښه په عامه توګه ګټه اخیستونکي دی او فیروزیی کرښه په سوداګریزه توګه ګټه اخیستونکي (سوداګریز شرکتونو) څخه عواید راښایی. چې د کوچنیو څخه تر متوسط سوداګریز شرکتونه دا ټکنالوجی د Trunking د مصارفو د کمیدو په موخه استفا ده کوي، لوی سوداګریز شرکتونه یی د Mobility support او نورو ورته چارو لپاره ترینه ګټه اخلي او د دی لپاره یی هم استفاده کوي تر څو مختلف کارکوونکي یی په یوه پراخه جغرافیایی ساحه کی یو له بل سره کار وکړي او خپل معلومات شریک کړي. نور لوی شرکتونه چې مخابراتي خدم تونه وړاندی کوي لکه د GSM او CDMA تکنالوجیو څخه استفاده کوي د دی په موخه VoIP کاروي تر څو لازیات عواید تر لاسه کړي او پر مختللي شي.[2]

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ټولی هڅی او هلی ځلی چی وی د دی لپاره وی ترڅو داسی شبکی ولرو چی د مختلفو ټکنالوجیو څخه پکی استفاده شوی وي او دا ټکنالوج یانی یوځای مختلف خدمتونه وړاندی کړي چی په دی برخه کی IP ډیرمهم او اړین بلل کیږي ترڅو دی شته ستونزو ته ځواب ووایی او دا هغه ستونزی دي چی حل کول یی یو ډیر ستونزمن کار بلل کیدو د نن څخه۳۰ یا ۴۰ کاله مخکی خو په هغه وخت کی پوښتنهدا وه چی کیدلی شي په هغو سودا گر یزو شرکتونو کی چی مخکی له مخکی جوړ شوي او پانګونه پکی شوی ده معلومات (Data) او غږ یوځای او په حقیقی توګه ولیږو؟ او آیا دا ممکنه ده تر څو هغه شبکی چی بنست یی IP (IP based) شبکی دي په هغه شبکو کی ځای پر ځای کړو کومی چی له سرکیټ سویچینګ ټکنالوجي څخه ګټه اخلي؟

چی د دی پوښتنو ځواب ۱۹۷۰ ز لسیزی ته ځي، کله چی د غږ لیږل د پکیټ پواسطه وڅیړل او مطالعه شول چی په ۱۹۷۵ ز کال کی د Advanced Research Project Agency له خوا په DACH-15-75-C0135 پروژه کی (چی نوری زیاتی پروژی هم ورسره وی ) پکی د غږ او ډیټا یوځای لیږل په عملي توګ ه وڅیړل شول، او بلآخره په اوسنیو تیروڅو لسیزو کی دی پوښتنو ته مثبت ځواب ورکړل شو . چی په ۱۹۹۵ ز کال کی لمړنی شرکت چی VoIP خدمتونه یی وړاندی کول Volcatec نومیدو او په لمړیو کی یی ۳ ملیونه IP فونونه (IP Phones) سره په خدمتونو پیل وکړ چی یوازی ۱۵۰۰۰ ګټه اخیستو نکي یا مشتریان یی درلودل او همدی شرکت د لمړني انټرنټي ټلیفون چی په سافټویر ډول وه جوړ کړ او دی ټلیفون د شخصي کمپیوټر څخه اوسنی VoIP فون جوړو چی دی کمپیوټر یو د غږ کارت (Sound card)، یو مایکروفون ته او یو سپیکر ته اړتیا درلودله او د اوسني رایج پروټوکول چی Session Initiation Protocol (SIP) دی پر ځای یی د H.323 پروټوکول څخه ګټه پورته کوله چی کولای شو ووایو پخوانی Vocaltec د اوسنی Skype شکل یی درلود.[1]

په هغه وخت کی په انټرنټ کی د ډیر Bandwidth نه شتون او د Dial-up موډمونو څخه د استفادی په وجه د انټرنټي اړیکو څرنګوالی یا کیفیت ډیر ټیټ وه چی د پخوانیو انلاګ ټلیفونونو څخه ګټه اخیستل کیدله . وروسته نور شرکتونه هم پرانستل شول تر څو VoIP خدمتونه وړاندی کړي او د VoIP اړیکی زیاتی شي او پرمختګ وکړي چی په ۱۹۹۸ ز کال کی نږدی ۍ په سلو کی ټلیفوني اړیکی په امریکا کی VoIP جوړولی.[1]

خو دی ټکنالوجي هغه وخت ډیره وده وکړه کله چی اړیکی د ټلیفون څخه ټلیفون ته د کمپیوټر د لاری ممکنه شولی، پدی برخه کی چی د شبکو لپاره یی VoIP وسایل جوړ کړل لکه LUCENT او CISCO شرکتونو داسی وسایل مارکیټ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندی کړل چی د دی وړتیا یی درلودله تر څو په لوړه کچه ټرافیک ولیږدوي لکه په امریکا کی VoIP په کال کی دری په سلو کی ټول ټرافیک جوړوي. د انټرنټی ټلیفونونو خدمتونه د دی خدمتونو، د وړاندی کوونکو شرکتونو سره زیات شول چی د ۲۰۰۵ ز کال په آخرو کی او په ۲۰۰۶ ز کال کی ډیر د پام وړ وګرځیدل او هغه ستونزی چی د غږ په کیفیت یا څرنګوالي کی درلودی د لوړ سرعت انټرنټ یا Broadband Internet سره رفع شولی او د منځه لاړی. په ۲۰۰۷ ز کال کی عواید د لوړ باند درلودونکو سیستمونو څخه د ټول ټرافیک څه نا څه د دری ملیاردو امریکایی ډالرو شا وخوا کی وه چی د ۲۰۰۸ ز کال پای پوری دا عاید ۸.۵ ملیاردو ډالرو ته ورسیدو، خو په ۲۰۱۱ ز کال کی یوازی د VoIP عواید په یاد شویو سیستمونو یا شبکو کی شاوخوا ۳.۵ ملیاردو ډالرو ته ورسیدو. چی د ټکنالوجی د پرمختګ سره، د انټرنټ د سرعت د زیاتیدو سره او د بی سیم مخابرا تو په زیاتیدو سره کیدلی شي د دی ټکنلوجي څخه ډیره طمع، توقع او امید پیدا شي لکه څنګه چی یی په تیرو نسلونو کی د پام وړ پرمختګ کړی د هغی نه په زیاته کچه په اوسني نسل کی او په راتلونکی نسلونو کی وده او پرمختګ وکړي .[2]

## ۱.۲ د VoIP شبکو لمړی نسل

په تیرو څو لسیزو کی د مخابراتو نړۍ مختلفی لاس ته راوړنی د میډیاګانو او نورو خدمتونو یوځای کیدو په موخه لرلی خو یوازی هغه شبکو چی بنسټ یی IP دی یا IP-based شبکی وی او د دی اهدافو د لاس ته راوړلو لپاره یوازینی د حل لاره وی . د Integrated Services Digital Network (ISDN) په اړه څیړنی لمړی ځل په جاپان کی په ۱۹۷۰ ز کال کی پیل شوی مخکی د دی څخه چی په شمالی امریکا او په اروپا کی پیل شي د یو واضح او روښانه هدف په موخه چی د مرکبو شبکو یا Integrated Network رامنځ ته کیدل وه.که څه هم په هغه وخت کی یوازی د Time Division Multiplexing (TDM) (سرکیټ سویچ) شبکو په واسطه لیږل کیدو خو وروسته هغه شبکی چی د ډیټا د لیږلو لپاره وی لکه LAN(IEEE 802.9) او Fiber Distributed Data Interface (FDDI) د غږ لیږد ته پاملرنه وکړلی شو تر څو د ډیټا تر څنګ غږ هم ولیږدوي چی بنسټ یی پکیټ وه یا Packet-based شبکی وی. چی دی موضوع یعنی د غږ لیږدول د ډیټا شبکو پواسطه په تیرو دوو لسیزو کی ډیر زیات پام یی د ټکنالوجی د مارکیټ ځان ته راواړو. د VoIP د لمړی نسل د وسایلو تولیدات په سودا ګریزه کچه د ۱۹۹۰ لسیزی په منځ کی پیل او د همدی لسیزی تر پایه پوری بازار ته وړاندی شول چی دی وسایلو په لمړیو کی په ډیر ساده ډول یوازی اساسي دندی او خدمتونه تر سره کول، خو د ښی وړتیا په نه درلودلو سره او د ښو خدمتونو په نه درلودو سره د دی نسل تولیداتو و نه شو کولای چی خلک راضي کړي نو خپل ارزښت او محبوبیت په سودا ګریزه سطح له لاسه ور کړ او د دی ستونزو سره سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سيګنلينګ لپاره يې ډير کم ظرفيت درلود چې په عمومي توګه دی وسايلو د خدمتونو کيفيت يا Quality of Service (QoS) هم نه درلود. خو بيا هم لکه مخکې چې مو ياده کړه ټولی هلی ځلی چې د شبکو د پرمختګ لپاره روانی وی د دی په موخه وی تر څو يو م رکب محيط د شبکو او ټکنالوجيو ولرو او مختلف خدمتونه وړاندی او تر سره کړي چې لاندی شکل يا تصوير يې يو ډير واضح او مشرح ښوونکی دی د دی ټکنالوجيو لپاره.[4]

لاندی شکل يا تصوير ته که موږ وګورو په واضحه او څرګنده توګه ښکاري چې مختلفی شبکی له يو بل سره نښتی دي چې له مختلفو ټکنالوجيو څخه ګټه اخلي او په دی ټکنالوجيو کی له مختلفو پروټوکولونو څخه ګټه پورته شوی ده چې لا نوری يی هم ځانګړی ګړی دي او يو داسی چاپيريال يی رامنځ ته کړی دی چې په عمومي توګه مرکب دی. [5]




[۱.۱] شکل، د مرکبو ټکنالوجيو چاپيريال يا محيط

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱.۳ د VoIP شبکو دوهم نسل

هغه شبکې چې Connectionless دي (د پکیټونو د رسیدو ګرانټي نه ورکوي ) په هر ځای کې شتون لري چې د غږ لیږلو لپاره ډیرې مناسبې دي حتی په سوداګریزه توګه . چې د VoIP د دې نسل وسایلو تولیدات د ۲۰۰۰ ز لسیزې په لمړیو کې پیل او د همدې لسیزې تر اوسطه پورې، چې دې تولیداتو د ډیر پرمختللي ټلیفوني خدمتونو وړتیا درلودله لکه په کنفرانسي ډول ټلیفوني اړیکې، د اړیکو نیولو لپاره له اقتصادي پلوه ارزانه لارې، د خدمتونو کیفیت یا QoS درلودل او ځینې نور خدمتونه او آسانتیاوې چې په بې سیم ډول اړیکې نیول، امنیتي خدمتونه په اړیکو کې داډ درلودل او د اړیکو اداره کول دي.[5]

د ټولو څخه زیات د ارزښت وړ او مهمه خبره پدې تولیداتو کې چې ډیره پراختیا یې وموندده دا وه چې دې وسایلو د سیګنلینګ وړتیا درلودله په ډیر اصلي او سټنډرډ توګه لکه د H.323 v3 او SIP پرتوکول څخه د ګټې اخیستو وړتیا یې درلوده. په تیرو څوکلونو کې د وخت په تیریدو سره پدې برخه کې د ارګانونو او شرکتونو له خوا پروتوکولونه او د اړیکو لپاره د نویو او نورو ځانګړتیاو سره پروتوکولونه او سټنډرډونه جوړ او خپاره شول . د مثال په توګه ځینې اتحادیې او ارګانونه لکه ITU, IETF او IEEE. چې دا پروتوکولونه مخ په ودې دي د لاښوالي او د نورو ښو او اړینو خدمتونو سره، چې د پروتوکولونو د پرمختګ سره د دې پروتوکولونو لپاره د VoIP وسایلو هم ډیره وده وکړله. لکه د IP فونونو راوتل په سافټویر او هارډویر ډول مارکیټ ته په سوداګریزه کچه او د IP شبکو د اړیکو نیول د غیر IP شبکو سره چې د دې کار لپاره Gateways راووتلې.د پام وړ خبره دا ده چې Session Initiation Protocol (SIP) سټنډرډ کیدل دي چې د ۴۰۰ څخه زیات RFC راوتلي او خپاره شوي دي د Internet Engineering Task Force (IETF) له خوا د ۲۰۱۱ ز کال تر پای پورې.[5]

## ۱.۴ د VoIP شبکو دریم نسل

د VoIP د ټکنالوجی دریم نسل چې اصلاً راتلونکې نسل ګڼل کیږي او په ځینې هیوادونو کې دا نسل پلې شوی هم دی . په راتلونکو هیوادونو کې لکه زموږ ګران هیواد افغانستان کې چې په راتلونکو څو کلونو کې به پلي شي ان شأ الله. دا نسل به

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ځانګړي ډول له لاندی ځانګړ تیاو څخه برخه  من وي او په پلي کولو به یی لاندنی تغیرات په ټکنالوجي کی رامنځ ته شي:

- ټولی اړیکی به د یوه ګټه اخیستونکی څخه بل ګټه اخیستونکي ته د IP پواسطه وي او IP به یی بنسټ وي (په ځانګړي توګه راتلونکی IP،IPv6).
- یو ګټه اخیستونکی به د هر ځای څخه کولای شي چی خپلی شبکی ته لاس رسی ولري.
- د پر مختللي سیګنلینګ درلودلو په موخه به د SIP پروټوکول څخه ګټه اخلي (د پروټوکولونو په برخه کی SIP به یی بنسټ وي).
- مخابراتي شبکی به له نورو سوداګریزو شبکو سره په غیر له کومی ستونزی څخه ونښلي او یو ځای شي د پروټوکولونو او امنیت له نظره.
- د دریم نسل Cellular شبکی یا حجروي شبکی چی UMTS او CDMA2000 دي د VoIP له دریم نسل شبکو سره ګډی وي او یو ځای به کار کوي.
- د end-to-end ګټه اخیستونکو تر منځ به د خدمتونو کیفیت په لوړه کچه شتون ولري په مختلفو شبکو کی.
- د ټیټ bit-rate درلودونکی ویډیو به هم اخیستلی یا support کولای وشي او د ویډیویی کنفرانس سره په لوړه کچه.
- د شبکو یا میډیا ګانو ترکیب او یو ځای کول به پکی په ډیر آسانه او په ښه توګه تر سره شي . لکه حجروي شبکی، سوداګریزی شبکی او حتی نوری پخوانی شبکی.
- ډیره زیاته وړتیا به لري دمختلفو خدمتونو او میډیاګانو لپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهم څپرکی

## ۲.۱ د VoIP بنسټيز مفاهيم

پدی څپرکي کی غواړم د VoIP شبکو په بنسټيزو مفاهيمو بحث وکړم. نو پدی برخه کی لمړی Internet Protocol (IP) چی د دی شبکو بنسټ او اساس دی غواړم په ډيره لنډه توګه معرفي کړم او وپيژنم يعنی IP څو ډولونه يا ورژنونه لري، څلورم ورژن يا اوسنی ډول د کوم څخه چی موږ اوس په خپلو شبکو کی ګټه اخلو، شپږم ورژن يا راتلونکی ډول، د څلورم ورژن په نواقصو او محدوديتونو باندی، د IP د راتلونکی ورژن په ښيګڼو باندی او وروسته له دی په سيګنليګ باندی بحث وکړم چی د سګنلينګ په برخه کی به په ځانګړي توګه د VoIP پروټوکولونه تر بحث لاندی ونيول شي.[6]

## ۲.۲ Internet Protocol (IP)

Internet Protocol د نيټورک طبقی يا Network layer پروټوکول دی (د OSI Model دريمه طبقه ده) چی د آدرس او د ډيټا د کنټرول په اړه معلومات پکی وي تر څو د ډيټا پکيټونه په شبکه کی له يو ځايه بل ځای ته تګ را تګ وکړي. دا پروټوکول په TCP/IP کی چی د پروټوکولونو مجموعه ده لمړی Network layer پروټوکول دی.[7]

IP آدرس اصلاً يو پيژندونکی دی د هغو وسيلو لپاره چی په يوه IP شبکه کی دی وسيلو ته ورکړل شوی وي او په شبکه کی يو له بل سره نښتي وي.

IP په ۱۹۷۰ ز لسيزی کی جوړ شو د دی په موخه تر څو هغه کمپيوټرونه له يو بل سره ونښلوي کوم چی په مختلف جغرافيايی ساحو کی موقعيت درلو دو او له يو بل څخه لری وه . کمپيوټرونه په يوه محدوده ساحه کی يو له بل سره نښتي وه تر څو محلي شبکی رامنځ ته کړي، خو دا شبکی ياجزيری خپلو کی د Internet پواسطه نښتی وی نو انټرنټ هغه نوم دی په کوم پوری چی IP پروټوکول تړاو لري.[7]

انټرنيټ چی وروسته په Worldwide information network ونومول شو په ساده او آسانه اصطلاح ورته Internetwork وايی په لمړيو کی يوازی په نظامي برخو کی او د نظامي اهدافو لپاره ترينه ګټه اخيستل کيده چی وروسته پکی د پوهنتونونو، سوداګريزو او نورو برخو کمپيوټرونه واچول او شامل شول . نو انټرنټ د IP پروټوکول په

(c) ketabton.com: The Digital Library

عملي توګی سره د پلي کولو پایله ده تر څو د نړۍ لویی شبکی له یو بل سره ونښلي او معلومات شریک کړي یو له بل سره .

### ۲.۲.۱ د IP نسلونه یا ورژنونه

IP اصلاً دری نسلونه یا ورژنونه لري:

- Internet Protocol version 4.
- Internet Protocol version 5.
- Internet Protocol version 6.

په دی دری ورژنونو کی مونږ یوازی د دوو ورژنون څخه په انټرنټي شبکو کی ګټه اخلو چی IPv4 او IPv6 دي. دا بل ورژن چی IPv5 دی دا پروټوکول د څیړنو او تحقیقاتو لپاره ځانګړی شوی دی چی مختلفی څیړنی او تحقیقات په بر کی نیسي چی په عامو انټرنټي او محلي شبکو کی ترینه ګټه نه اخیستل کیږي. نو غواړم یوازی په هغو ورژنونو بحث وکړم د کومو څخه چی مونږ په خپلو محلي یا انټرنټي شبکو کی ګټه اخلو.[7]

### ۲.۲.۲ Internet Protocol version 4

IPv4 چی د IP لمړی او اوسنی نسل دی د ۱۹۹۰ ز لسیزی په لمړیو کی پیل شو. دا پروټوکول ۳۲ بیټ (bit) اوږدوالی لري، Format یا جوړښت یی Decimal دی په پنځو کلاسونو A، B، C، D او E ویشل شوی دی او هر کلاس خپل محدود آدرسونه لري چی په لاندی ډول هر کلاس د خپل محدودی ساحی او Subnet Mask سره ښودل شوی دی.[7]

Class A: 1-126 ⟶ 255.0.0.0

Class B: 128-191 ⟶ 255.255.0.0

Class C: 192-223 ⟶ 255.255.255.0

Class D: 224-239 ⟶ Multicasting

Class E: 240-255 ⟶ Reserved for future and research

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دی پروټوکول هر آدرس د دوو برخو جوړ شوی دی چې یوه برخه یې د ګټه اخیستونکی پوری تړاو لري چې Host نومیږي او بله برخه د شبکې برخه ده چې Network نومیږي. پدی کلاسونو کې موږ یوازی د دری کلاسونو A، B او C څخه په خپلو شبکو کې ګټه اخیستلی شو خو کلاس D او کلاس E څخه موږ په خپلو محلي شبکو کې ګټه نه شو اخیستلی دا ځکه چې کلاس D د Multicasting او یا Broadcasting لپاره استفاده کیږي د Multicasting لپاره خپل وسایل دي چې د دی کلاس آدرسونه دی وسایلو ته مخکی له مخکی ورکړل شوی دي . کلاس E تر اوسه هم د راتلونکی او د څیړنو یا Research لپاره ځانګړی شوی دی چې دا څیړنی مختلفی څیړنی په بر کی نیسي . بله دا چې د دی پروټوکول هر آدرس له ځانه یو بل آدرس هم لري، Subnet Mask چې مخکی هم ورڅخه یادونه وشوه Subnet Mask یا Address Mask د دی لپاره دی تر څو د هر کلاس د Network برخه او د Host برخه معلومه شي او دا کلاسونه لا هم وپیژندل شي لکه څرنګه چې پورته هم ښودل شوی دي هر کلاس له ځان څخه خپل Subnet Mask لري.[8]

### Internet Protocol version 6 ۲.۲.۳

IPv6 دا هغه پروټوکول دی چې مخکی له مخکی څخه جوړ شوی وه ځکه په IPv4 کې ځینی ستونزو او محدودیتونو شتون درلود، له دی ډلی څخه دا دی چې پدی پروټوکول کی د آدرسونو کمښت دی او نوری د ورتیاوو نه درلودل او امنیتي ستونزی دي. چون دا پروټوکول د IPv4 د محدودیتونو او ستونزو په نظر کی نیولو سره جوړ شوی او راوتلی وه له دی امله په IPv6 کی به یوازی هغه ښیګڼی یادی کړم چې په IPv4 کی نه وی. د ۱۲۸ بیټ آدرس وړتیا لرل یا اوږدوالی یی لوی دی، د امنیتي ستونزو څخه پکی مخنیوی شوی او داسی نوری زیاتی ښیګڼی لري د IPv4 په پرتله چې د هغو په یادولو به له اصلي بحث څخه و وځم نو د IP په اړوند معلوماتو ته به همدلته د پای ټکی کیږدم.[6]

### ۲.۳ سیګنلینګ (Signaling)

د معلوماتو شریکول د شبکې د وسایلو تر منځ په یوه شبکه کی د خدمتونو وړاندی کولو په موخی ته سیګنلینګ وایی چې پکی د اړیکو د ټینګولو، د اداره او کنترول کولو او د اړیکو پری کولو پروتوکولونه راځي . سیګنلینګ نه یوازی په لویو شبکو او د دی شبکو د یو بل سره د اړیکو نیولو لپاره دي او یوازی پدی برخه کی اړینی دي بلکه سیګنلینګ په دننه د لویو او کوچنیو شبکو کی هم اړین او د ارزښت وړ بلل کیږي . لکه که یو ګټه اخیستونکی و غواړی په دننه د شبکه کی له

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو بل ګټه اخيستونکی سره اړيکی ونيسي، نو د دی اړيکی نيولو لپا ره دی يو اندازه خدمتونو ته اړتيا لري او حتی د خدمتونو نه په غير د ساده ټليفوني اړيکو نيولو لپاره هم داسی کړنو ته اړتيا لري تر څو وکولای شي مقابل لوری سره په ښه توګه اړيکی ونيسي چی دا کار بدون د سيګنلينګ څخه ناشونی دی.[9]

د سيګنلينګ په برخه کی مختلفو ارګانونو او شرکتونو لکه ITU-T, IETF, IEEE او CISCO چی ځانګړي او مختلف پروتوکولونه يی منځ ته راوړي تر څو د سيګنلينګ په برخه کی شته ستونزی حل شي او د منځه لاړی شي . په تيرو څو کلونو کی په شبکو کی د سيګنلينګ په برخه کی دری د پام و ړ مسئلی رامنځ ته شوی دي چی لاندی بيان شوی دي.[9]

۱: هغه حالت دی چی ټوله شبکه ښه وړتيا لري لکه هم د ګټه اخيستونکو وسايل او هم د شبکی وسايل . پدی حالت کی بايد د ITU-T H.323 سټندرډ پروتوکول څخه ګټه واخيستل شي.

۲: دا هغه حالت دی چی شبکه وړتيا لري خو ګټه اخيستونکي وسايل يا end-nodes وړتيا نه لري چی په دی حالت کی بايد د Media Gateway Control protocol (MGCP), Media Gateway Controller (MEGACO/H.248), Common Channel Signaling System number 7 (CCSS7) او Bearer-Independent Call Control (BICC) پروټوکولونو څخه ګټه واخيسئ شی.

۳: هغه حالت دی چی ګټه اخيستونکي وسايل وړتيا لري اما د شبکی وسايل وړتيا نه لري چی د دی حالت لپاره د Session Initiation Protocol (SIP) پروټوکول غوره کول يوازينی ښه لار ده او بايد د دی پروټوکول څخه ګټه پورته کړو.چی پخوانيو شبکو به د دوو پورتنيو طريقو کا ر کاوه يعنی د هغه پروتوکولونو څخه به يی ګټه اخيستله چی په هغه دوو کی ياد شوی دي، خو اوس چی کوم نوي او پرمختللی سوداګريز شرکتونه دي د آخری طريقی پر بنسټ کار کوي يعنی د SIP پروټوکول څخه ګټه اخلي. H.323 چی تر څو وخته مخکی پوری يعنی د دوهم نسل پوری يی ډير زيات مارکيټ درلود او د مارکيټ پام يی ځان ته راړولی وه په آخرو کی خپل ځای او ارزښت له لاسه ورکړ او همدا توقع هم ترينه کيدله ځکه د نوي پروټوکول په راوتلو مارکيټ ته د H.323 پروټوکول ستونزی په نظر کی ونيول شوی او له منځه لاړی چی د شبکو پام يی ځان ته راواړوه .په لاندی شکل کی د VoIP د پروټوکولونو بنسټ ښودل شوی دی چی د کومو پروټوکولونو بر بنسټ کار کوي يعنی راکړه ورکړه د کومو پروټوکولونو پر بنسټ کوي . چی پدی برخه کی دوه عمومي

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروتوکولونه دي چې TCP او UDP دي او بیا دا دوه پروتوکولونه د IP پروتوکول څخه کټه اخلي او دا پروسه کیدلی شي چې په یوی LAN شبکه کی وي او یا په WAN شبکه کی وي.[9]




[۲.۱] شکل، د VoIP د پروتوکولونو عمومي جوړښت

چې په پورتني شکل کی د VoIP د پروتوکولونو بنسټ ښودل شوی دی چې هر یو به په خپل وار سره په راتلونکو پاڼو کی تشریح او واضح شي.

## ۲.۳.۱ د VoIP د سیګنلینګ ځینی مشهور او مهم پروتوکولونه او د هغو د جوړیدو اصلي نیټه

[۲.۱] جدول،د VoIP د سیګنلینګ پرمخ تللي پروتوکولونه او د هغوی جوړونکي او د جوړیدو نیټه

| ستنډرډونه (پروتوکولونه) | اصلي نیټه | خپاره کوونکي (جوړوونکي) |
|---|---|---|
| ITU-T H.323 v1 | د ۱۹۹۶ ز کال می میاشت | ITU |
| ITU-T H.323 v2 | د ۱۹۹۸ ز کال جنوري میاشت | ITU |
| ITU-T H.323 v3 | د ۱۹۹۹ ز کال سپتمبر میاشت | ITU |
| ITU-T H.323 v4 | د ۲۰۰۰ ز کال نومبر میاشت | ITU |
| ITU-T H.323 v5 | د ۲۰۰۳ ز کال جولای میاشت | ITU |
| ITU-T H.323 v6 | د ۲۰۰۶ ز کال جون میاشت | ITU |
| ITU-T H.323 v7 | د ۲۰۰۹ ز کال نومبر میاشت | ITU |
| IETF SGCP | د ۱۹۹۸ ز کال جولای میاشت | Telecordia, CISCO |
| IPCD | د ۱۹۹۸ ز کال اګست میاشت | IETF |
| IETF MGCP 0.1 | د ۱۹۹۸ ز کال اکتوبر میاشت | IETF |
| MDCP | د ۱۹۹۸ ز کال ډیسمبر میاشت | Lucent |
| MEGACO (MGCP+) | د ۱۹۹۹ ز کال اپریل میاشت | IETF |
| IETF SIP | د ۱۹۹۸ ز کال مارچ میاشت | IETF |

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه څنګه چې مې مخکې وویل سیګنلینګ په مخابراتو کې یوه ډیره مهمه او اړینه برخه ده. په پورتني جدول کې د ډیرو مهمو پروټوکولونو څخه یادونه شوی ده.H.323 اصلاً په سودا ګریزه توګه یې LAN کې دیره وده وکړله او هم هغلته یعنې په LAN شبکو کې یې ډیر پرمختګ وکړو د ویډیویی کنفرانس لپاره او د ISDN سره ډیر ورته والی او نږدیوالی هم لري د سیګنلینګ پروټوکولونو په برخه کې لکهQ.931.[10]

MGCP/MEGACO په ډیرو غټو شبکو کې پلي شوی او په همدی شبکو کې یې وده او پرمختګ کړی دی تر څو میډیاګانی او ګیټوی ګلنی او نور اړین وسایل څرنګه کنټرول او اداره شي، سافټ سویچونه څنګه کار وکړي او اداره شي او د داسې نورو دندو لپاره . چې IETF خپل SIP پروټوکول ته وده ورکړله او د انټرنټ او نورو شبکو مخکني پروټوکولونو څخه یې ګټه واخیستله لکه Simple Mail Transfer Protocol (SMTP), Hypertext Transfer Protocol (HTTP), Uniform Resource Locator (URL). Multipurpose Internet Mail Extensions (MIME) او Domain Name Service (DNS) تر څو مختلف خدمتونه تر سره او وړاندی کړي.[10]

### ۲.۳.۲ H.323 ستنډرډ

اصلاً ITU-T H.323 د ITU یو ستنډرډ دی چې د ویډیو او نورو مختلفو میډیاګانو یا Multimedia لکه غږ، تصویر، ویډیو او لیکنی یا Text د لیږلو لپاره جوړ شوی وه چې تر اوسه پورې په اوو ورژنونو یا پړاوونو کې راغلی دی، چې وروسته بیا د VoIP لپاره ومنل شو. نظر د ITU-T په وینا یا Recommendation د H.323 څلورم version چې ګرانټي شوي خدمتونه یې نه وړاندی کول خو د دی سره مختلف مخابراتي خدمتونه یې هم وړاندی کول د ټرمینلونو او نورو وسایلو تر منځ د هغو شبکو پواسطه چې بنسټ یې IP دی. د H.323 وسایل چې په حقیقی توګه یا په متقابله توګه کولای شي چې غږیزی، ویډی ویي او د ډیټا لپاره اړیکی وړاندی او براری کړي، خو خپله H.323 یوه مجموعه یا Umbrella د پروټوکولونو ده چې په عمومي توګه دوه دندی تر سره کوي . لمړی د اړیکو ټینګول او پرې کول دوهم د تصویر او غږ یو ځای لیږل او یا د مختلفو میډیاګانو یا Multimedia یو ځای لیږل دي. د H.323 اساسي ځانګړتیاوی او خدمتونه د اړیکو نیوونکو لپاره دا دي: Call hold, call waiting, call transfer, call forwarding, caller Identification او call park یعنې د اړیکو معطلول، توقف کول یا درول، د اړیکو لیږل بل ځای یا بل هدف ته، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړیکو راوړل مخ ته یا د ا ړیکو مخکی کول او د اړیکی نیوونکي پيژندل دي چی لاندنی شکل د دی پروتوکول جوړښت راښایی.[11]




[۲.۲] شکل، د H.323 پروتوکول جوړښت

### ۲.۳.۲.۱ د H.323 عنا‌صر

دا هغه عنصرونه دي چی د H.323 شبکی جوړوي او د دی پروتوکول درلودونکی شبکی جوړښت نظر پدی عناصرو تشکیلیږي او جوړیږي چی دا عناصر په عمومي توګه ځلور دي چی لاندی بنودل شوي او وروسته په راتلونکو پاڼو کی په مشرح توګه به ورباندی بحث وشي.

۱: Terminals یا ترمینلونه.

۲: Gateways یا دروازی.

۳: Gatekeeper یا کنټرول کوونکي.

۴: Multipoint Control Units یا د کنفرانسي اړیکو وسایل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دی ځلورو عنصرونو د لا ښه پیژندلو او پوهیدلو لپاره لاندی شکل یا تصویر چی د VoIP For Dummies له کتاب څخه اخیستل شوی دی پلټ وکړلی شي تر څو لا هم واضح شي[7]




[۲.۳] شکل، د H.323 پروتوکول عناصر

### ۲.۳.۲.۲ ترمینلونه

ترمینلونه هغه وسایل دي چی د ګټه اخیستونکي سره وي او یا د ګټه اخیستونکي لپاره دي چی د endpoints او endsystems په نوم هم یادیږي . لکه په پورتني شکل کی چی یوه LAN شبکه ده پکی ښودل شوي دي . ترمینلونه د دی وړتیا لري ترڅو په حقیقي توګه دوه اړخیزه اړیکی د نورو H.323 وسایلو سره ونیسي او د دی وړتیا باید ولري ترڅو:

۱: غږ چی Audio codecs دی تر سره کړي.

۲: سیګنلینګ او Setup یا د اړیکو مکمله پروسه چی Q.931, H.245 او RAS دی بڼسره کړي.[11]

خو لاندی دندی او خدمتونه یی اختیاري دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویډیویی کوډرونه او د ډیټا شریکول په حقیقي توګه او په حقیقي وخت کی په کنفرانسي ډول په یو تصویر یا نورو معلوماتو په حقیقي توګه کار کول دي چی Whiteboarding ورته وایی. غږیز کوډونه یا Audio codecs د غږ د جوړښت او کمپریشن لپاره سټنډرډونه یا پروټوکولونه لکه : G.711, G.723, G.728, G.729 او داسی نور، او ویډیویی کوډونه چی د ویډیویی اړیکو د کوډ کولو او جوړښت ورکولو لپاره دي چی دا سټنډرډونه یا پروټوکولونه او جوړښت ورکولو لپاره دي چی دا سټنډرډونه یا بروټوکولونه په H.323 کی دا دي لکه H.261 او H.263 چی د میډیا د Compress یا تخته کولو او Decompress کولو یا سپړلو لپاره دي . چی د دی میډیا ګانو د لیږلو او کنټرول کولو لپاره دلته دوه پروټوکولونه شتون لري Real time Transport Protocol (RTP) او Real time Transport Control Protocol (RTCP) چی RTP د دی کوډونو د لیږلو لپاره دي او RTCP د دی کوډیکونو د لیږلو په وخت کی د کنترول او اداره کولو لپاره دي، دا پروټوکولونه (RTP او RTCP) د User Datagram Protocol (UDP) څخه ګټه اخلي او لیږل کیږي او سیګنلینګ د مصئون او د اطمینان وړ پروټو کول پواسطه لیږل کیږي چی Transmission Control Protocol (TCP) دی.[10]

Registration Admission Protocol (RAS) یو ګټه اخیستونکی چی کله اړیکی نیسي هغه راجستر کوي، هغه ته اجازه ورکوي او د هغه حالت او موقعیت ګوري . چی Q.931 په شبکه کی د اړیکی ټینګول اوساتنه کوي او H.245 د کنټرول او اداره کولو لپاره دی چی د وړتیاوو راکړه ورکړه یا تبادله ده چی په لاندی جدول کی ښودل شوی دي.[10]

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۲.۳.۲.۳ د H.323 ترمینل جوړښت




[۲.۴] شکل، د H.323 پروتوکول د ترمینل جوړښت

### Gateways ۲.۳.۲.۴

Gateways یا دروازی چې په شبکه کی د دی لپاره ترینه ګټه اخیستل کیږي تر څو د شبکی ګټه اخیستونکي د نورو بهرنیو شبکو سره (سرکیټ سویچ شبکو سره) اړیکی ونیسي، هر څه چې د بهر نه شبکی ته دننه کیږي او یا که د شبکی څخه بهر ته ځي د Gateway له لاری دا کار تر سره کیږي.[11]

Gateway ګانی اصلاً د آدرسونو ژباړنه کوي لکه د پکیټ سویچ (IP او Multiprotocol Label Switching (MPLS)) او سرکیټ سویچ (PSTN) شبکو تر منځ چې کله یو له بل سره اړیکه ټینګوي.

چې د دی سره سره نور خدمتونه هم وړاندی کوي لکه د میډیا د لیږلو او اخیستلو جوړښت یا Format او د هغوی ژباړل، د اړیکو د ټولې پروسی ژباړل او د H.323 او هغه شبکی چې H.323 نه دي یا non-H.323 شبکو ترمینلونو تر منځ د کوډیکونو یا جوړښتونو ژباړل دي. چې د دی خدمتونو سره سره د شبکو تر منځ د اړیکو ساتنه، کنټرول او اداره کول د غږ، ویډیو، تصویر او د ډیټا کمپریشن او پکیټ کولو یا Packetization عملیه هم تر سره کوي.[11]

(c) ketabton.com: The Digital Library

مختلفی ګیټوی ګانی شتون لري په مارکیټ کی چی د مختلفو شرکتونو له خوا جوړی شوی دي او جوړیږی لکه CISCO, IBM, D-Link او دغه شان نور شرکتونه د ګیټوی ګانو د مثال په توګه لکه IP/PSTN ګیټوی. په عمومي توګه یوه Gateway باید هغه جوړښتونه د میډیا اوپروټوکولونو وړتیا ولري اوملاتړی وي یا support یی کړی کومی چی په محلي شبکه کی یا LAN کی پکاریږي او ورته ښودل کیږي.

### ۲.۳.۲.۵ Gatekeeper یا کنټرول کوونکي

ګیټکیپر په شبکه کی یو اختیاري عنصر دی خو که چیری په شبکه کی شتون ولري باید دا دندی تر سره او دا خدمتونه وړاندی کړي:

د یوی H.323 ساحه یا Zone اداره کړي، او د هغی ساتنه او کنټرول وکړي (Zone یوه مجموعه او ځانګړی ساحه ده د ټولو H.323 شبکی د وسایلو).[12]

وکولای شي د لیږلو د جوړښت یا Transmission Format ژباړنه وکړي. چی Gatekeeper کیدلی شي په یوه شبکه کی داړیکو او د اړیکو د وسایلو د باریدو یا load د زیاتیدو په وخت کی د نورو وسایلو لکه ګیټوی سره مرسته او همکاري وکړي. معمولاً Gatekeeper په سافټویر ډول وي چی په کمپیوټر کی اچول کیږي یا نصب (Install) کیږي چی کیدلی شي په دواړو ګیټوی او ټرمینل کی واچول شي . د ګیټوی د لاری ځینی ځینی پیغامونه تیریږي خو داسی هم کیدلی شي چی د Gateway او Gatekeeper له لاری د دوه ګټه اخیستونکو یا endpoints اړیکی لاړی نه شي یعنی په دننه د شبکه کی چی په دی حالت کی دی دواړو ته اړتیا نه لیدل کیږی .[12]

په ځومره زیاته کچه ډیټا یا پیغامونه چی د Gatekeeper له لاری تیریږي هغومره ورباندی بار یا load او مسئولیت هم زیاتیږي چی باید ډیر کنټرول او نظارت وکړي د یادونی وړ ده چی میډیاګانی لکه آډیو، ویډیو، تصویر او ډیټا د Gatekeeper له لاری نه تیریږي.

د Gatekeeper لازمي اواختیاري دندی او خدمتونه لاندی ښودل شوی دي.[12]

#### ۲.۳.۲.۵.۱ د Gatekeeper لازمي دندی

- د آدرس ژباړنه (لارښوونه) یا Address Translation (routing).

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د اجازه ورکولو په وخت کی کنټرول او اداره.
- د Bandwidth کنټرول او د Bandwidth دغوښتنی اداره.
- د Zone یا ټولی ځانګړی ساحی د وسایلو اداره او کنټرول کول.

### ۲.۳.۲.۵.۲ دGatekeeper اختیاري دندی او خدمتونه

- د اړیکو د کنټرول Signaling یعنی مستقیماً د Q.931 سیګنلینګ ساتنه د دوو endpoints تر منځ.
- د اړیکی اجازه ورکول، د Bandwidth اداره کول او داړیکو اداره کول د مختلفو پالیسیو یا پلانونو په ګټه اخیستو سره.
- د خپله Gatekeeper په اړه د اداره کولو معلومات ورکول.
- د تر سره شویو دندو ثبتول یا ساتنه.

### ۲.۳.۲.۶ Multipoint Control Unit (MCU)

چی د کنفرانسي اړیکو لپاره دی د دریو یا زیاتو ګټه اخیستونکو تر منځ چی کیدلی شي یوه ځانګړی وسیله وي لکه یو کمپیوټر او په مرکب ډول د یوی Gateway, Gatekeeper او یا Terminal ترمنځ موجود وي، معمولاً MCU له ځانه سره Multipoint Controller (MC) او Multipoint Processor (MP) لري.[13]

Multipoint Controller: چی MC د کنفرانسي اړیکو لپاره کنټرول او سیګنلینګ برابروي او ساتنه کوي.

Multipoint Processor: چی MP د ګټه اخیستونکو یا endpoints څخه معلومات یا ډیټا اخلي او هغی باندی مختلفی عملیی تر سره کوي تر څو د پیژندلو وړ وګرځي یا هغه معلومات Process کوي او بیرته یی ګټه اخیستونکو ته ورکوي چی په کنفرانس کی یی ونډه درلوده او نښتي دي. MCU ګانی خپله یو منظم ډول دی د غیر منظم اړیکو لپاره.

چون دا برخه د تحقیق می د سیګنلینګ پوری تړاو لري او سیګنلینګ د VoIP لپاره یوه ډیر اړینه او مهمه برخه ده نو غواړم چی په سیګنلینګ باندی لا ډیر بحث وکړم. په لاندی شکل کی اړیکه نیول د دوه ګټه اخیستونکو تر منځ د

(c) ketabton.com: The Digital Library

Gatekeeper پواسطه بنودل شوی ده چی د سیګنلینګ په برخه کی د (ITU-T Q.931/H.245) پروتوکول څخه ګټه اخیستل شوی او په همدی اساس ده.د دوه ګټه اخیستونکو تر منځ چی لمړنی ګټه اخیستونکی غواړي اړیکه ټینګه کړي په A او دوهم چی اړیکه اخلي په B نومول شوی یا ښودل شوي دي.[9]




[۲.۵] شکل، د H.323 پروتوکول پواسطه اړیکه نیول

په پورتني شکل کی د اړیکی نیولو پروسی توضح:

۱: لمړی پیژندنه او راجستر کول د Gatekeeper سره د RAS چینل پواسطه شوی دي . چی د Gatekeeper پیژندنه (RAS) په لاندی ډول کار کوي:

ګټه اخیستونکی یا Client یوه عمومی غوښتنه یا Multicast درخواست او غوښتنه کوي چی د غوښتنی پکیت لیږي Gatekeeper ته (یعنی پوښتنه کوي چی زما Gatekeeper څوک دی).

بیرته Gatekeeper د تصدیقیدو ځواب ورکوي یا د رد کولو ځواب ورکوي.

د Gatekeeper سره راجستر کیدل یا (RAS) په لاندی ډول کار کوي:

- پدی پړاو کی client یا ګټه اخیستونکی Gatekeeper د خپل آدرس، نوم او ځانګړتیاوو څخه خبروي.
- دلته بیا clientGatekeeper څخه د راجستر کولو غوښتنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- دلته Gatekeeper بیرته د راجستر کولو یا رد کولو ځواب ورکوي.

چې په پورتني شکل کی Client A او Client B د Gatekeeper سره راجستر شوي دي.

۲: دوهم پړاو د راجستر کولو څخه وروسته د اړیکو نیولو مرحله ده د ګټه اخیستونکو تر منځ د (Q.931) پروټوکول څخه په ګټه اخیستو سره.

د اړیکی نیولو اجازه اخیستل (RAS) په لاندی ډول دی:

Client A د اړیکی نیولو غوښتنه کوي (کولای شم چی دا اړیکه ټینګه کړم) کله چې دا پکیټ لیږی دا پکیټ له ځانه سره د اړتیا وړ د اعظمي Bandwidth اندازه پکی هم ښودل شوی وي.

پدی وخت کی Gatekeeper د اړیکو نیولو د اجازی لپاره ځواب ورکوي چی غوښتل شوی Bandwidth هم ورکول کیږي پدی وخت کی او یا د غوښتل شوی Bandwidth اندازه یی کمیږي یعنی په کمه اندازه ورکول کیږي او د Gatekeeper له خوا د اړیکو نیولو لپاره د سیګنلینګ چینل هم ورکول کیږي.

۳: د اړیکو ساتل او د وړتیا راکړه ورکړه د H.245 نه په ګټه اخیستو سره په لاندی ډول دی.

ګټه اخیستونکی یا clients یو له بل سره د اړیکو نیولو وړتیا او د ټرمینل وړتیا تبادله کوی د یو message یا پیغام په لیږلوسره چی د هر ګټه اخیستونکی ټولی وړتیاوی پکی راغلی او ښودل شوی وی د میډیاګانو د لیږلو لپاره لکه اډیو کوډک او ویډیوکوډک دی. که چیری د کنفرانس ځانګړتیاوی د MCU وکتل او وڅیړل شی په دی پړاو کی او وروسته د وړتیاوو د تبادلی څخه د clients یو مناسبه طریقه خپلو لی شی د مختلفو میډیا څخه د ګټی اخیستنی په موخه چی په دی حالت کی ملټی میډیا چینلونو د راوړلو ټرمینل پرانیستل کیږی.[14]

۴: د اړیکو ساتل او د اړیکو خدمتونه د H.245 په واسطه:- کله چی د مختلفو میډیاګانو درلودونکی اړیکی ټینګی شولی د دی لپاره چی تر څو منطقی چینل یا Logical چینل پرانیستل شی د میډیا د لیږلو لپارهَ، اړیکی نیونکی client د منطقی چینل پرانیستلو په موخه message لیږي (H.245).

اړیکی اخیستونکی client ځواب ورکوی د یو جلا منطقی چینل د پرانیستو په اړه (H.245).

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی میډیا د نه ګرانټي شوی چینل (هغه چینل چی د ډیټا د رسیدو اطمینان نه ورکوي) په واسطه لیږل کیږی او د کنټرول پیغامونه د یو اطمینان وړ چینل (هغه چینل چی د ډیټا د رسیدو اطمینان ورکوي) په واسطه لیږل کیږی.

چی یو ځل اړیکی ټینګی شولی هم client او gatekeeper کولای شي د اړیکو د خدمتونو غوښتنه وکړی لکه هم client او هم GLC کولای شی د Bandwidth د زیاتیدو او یا کمیدو غوښتنه وکړی.[13]

۵: د اړیکو پریکول یا قطع کول (H.245 د اړیکو کنټرول او Q.931 د اړیکو سیګنلینګ په واسطه) چی په لاندی ډول دی.

هر یو client کولای شي چی اړیکه پری کړي خو موږ داسی فکر کوو چی client A اړیکه پری کړه.

- Client A د میډیا لیږل سر ته رسوی او منطقی چینلونه بندوی چی د میډیا د لیږلو لپاره ځانګړی شوی وو.
- Client A اړیکی ته د پای ایښودو غوښتنه کوي (دH.245 پروټوکول په واسطه).
- Client Bهم منطقی چینلونه بندوي او دی اړیکی ته د پای ایښودو غوښتنه کوي.
- Client A خپل H.245 کنټرول چینل بندوی،

که چیری سګنلنګ چینل لا هم موجود وو د اړیکی د پوره کیدو پیغام (Q.931) د clients تر منځ لیږل کیږی تر څو هغه چینل بند کړی.

## Session Initiation Protocol (SIP) ۲.۳.۳

### ۲.۳.۳.۱ د SIP پیژندنه

نظر په RFC 2543IETF، Session Initiation Protocol (SIP) (چی اوس د RFC6230، RFC6231، RFC6271، RFC6225 په RFC628، RFC6337، RFC6357، RFC6442، او RFC6451 لخوانه منسوخ شوی یا له منځه تللی دی ). یو Application Layer Signaling Protocol دی چی د ګټه اخیستونکو یا Users تر منځ په متقابله توګه د مخ تلفو میډیا ګانو په واسطه اړیکی ټینګوي، اړیکی کنټرول ، اداره او ساتي او اړیکی پای ته رسوي یا ختموي یی، اصلا SIP د دی لپاره جوړ شوی وو یا design شوی وو چی.[4]

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱: تر څو د نورو IETF پروټوکولونو سره ګډ کار وکړی او خپله دنده تر سره کړی.

۲: د دی لپاره جوړ شوی وه تر څو د دی وړتیا مخابراتی وسایلو ته ورکړی چی د نویو او راتلونکو پروټوکولونو کی وړتیا هم ولری او په اسانی سره یو له بل سره ګډ شی او یو ځای کار وکړی او بل په کی د کار کولو، استفاده کولو او یا نصبولو اسانتیا او سادګی منځ ته راولي.[4]

۳: د mobility یا د ګډهاخیستونکو او خدمتونو شتون او یو ځای کار کولو لپاره د اړیکو پر محال.[4]

۴: په ساده او آسانه توګه د خدمتونو وړاندی کول او نوي خدمتونه ځای پر ځای کول شته شبکو کی چی SIP د دی لپاره هم منځ ته راغی ترڅو د شبکی ظرفیت او سرعت (په سوداګریزو شبکو کی او په سوداګری‌زی سطح ) لوړ کړی او د دی شبکو بنسټ او اساس وګرځی . چی SIP د دی خدمتونه ورکولو او وړاندی وړتیا لری په نورو پروټوکولونو کی یا نسبت په نورو پروټوکولونو : د اړیکو نیولو اساسی خدمتونه او ځانګړتیاوی ( call blocking, call forwarding, call waiting یعنی د اړیکو معطلول، د اړیکو مخکی کول یا بل ځای لیږل او د اړیکو بندول یا block کول او داسی نور دی)، د مختلفو پیغامونو یو ځای لیږل، د اړیکو یا خدمتونو ویشل click-to-talk یعنی یو ګډه اخیستونکی غواړي له بل ګډه اخیستونکي سره اړیکه ونیسي چی دا د انترنیټ په واسطه دی خپل په کمپیوټر کی یو ټنی وهی او درخواست ځي بل ګډه اخیستونکي ته په یو حقیقي او متقابله توګه چی SIP دا وړتیا د VoIP ټلیفونونو ته هم ورکوي، ترڅو په حقیقي توګه یو له بل سره د لیکولو پیغامونو په واسطه اړیکی نیول چی Instant Messaging ورته وایی بل چی ډیر مهم او پرمختللی خدمتون ه دي د اړیکو اخیستل په مختلفو ځایونوکی بل د مختلفو شمیرو په واسطه له نورو اړیکه نیونکو سره اړیکه نیول یوځای او یا هم په خپل وار سره چی دا اړین خدمت یی د find me/follow me په نوم یادیږی بل دا چی SIP یو peer-to-peer پروټوکول هم دی یعنی د دی پروټوکول په واسطه یو ګډه اخیستونکی کولای شي چی له بل سره مستقیما اړیکه ونیسی نور وسایل په کی ګډ نه وی (لکه Gateway, او Gatekeeper) نظر په نورو پروټوکولونو ګډون لری د اړیکو نیولو پر محال چی دا یو master-slave پروټوکول دی.[4]

SIP کولای شی چی د اړیکو ټینګولو په موخه د هر لیږدو نکی پروټوکول څخه ګټه واخلی لکه UDP (چی په RFC768 کی راغلی) یا TCP (چی په RFC761 کی راغلی او شرح شوی دی ) او Stream control

(c) ketabton.com: The Digital Library

transition protocol (SCTP) چې په (RFC2960 کې راغلی دی). که سوداګریزی نړی ته پام وکړو نظر د وخت په تیریدو سره SIP وکړلی شول چې د مخابراتو د مارکیټ پام ځان ته په ډیره لوړه کچه راواړه وی چې دا پر مختګ یی دوام لری او نه دریدونکی ښکاری . بلاخره SIP د مخابراتو د سوداګریز مارکیټ اساس او بنسټ بلل کیږی په اوسنیو وختونوکی او په خاصه توګه د هغه شبکو لپاره چې بنسټ یی IP دی او یا د IP کیدو په حال کی دی.[4]

SIP دا هم وکړی شول چې د signaling میکانیزم په خپل منځ یا له خپل ځانه سره راوړی د مختلفو اړیکو نیولو لپاره، د هغو اړیکو لپاره چې په متقابل توګه نیول کیږی دوه وو او یا زیاتو ګټه اخیستونکو تر منځ د IP شبکو په واسطه د یو دوه طرفه ټلیفونی اړیکی په واسطه یا د لیکل شویو پیغامونو د راکړی ورکړی په واسطه او کنفرانسی اړیکو خدمتونه وړاندی کړی د مختلفو میډیا ګانو د یو ځای کولو او یو ځای کارکولو په واسطه.[4]

په SIP کی یو بل ښوالی هم شتون لري چې ډیر اړین دی چې هم د ګټه اخیستونکی او هم د شبکی وړتیاوی په نظر کی ونیسی هغه هم که چیری دوه ګټی اخیستونکی یو له بله سره اړیکه نیسی د دواړو لورو وړتیاوو ته ګوری او په پام کی یی نیسی چې د اړیکی ځانګړتیاوی او خدمتونه د اړیکی نیولو پر محال شریکی کړی وي . په SIP شبکو کی غړ یو جدا او ځانګړی میډیا ده چې SIP جوړښت داسی دی یا داسی جوړ شوی دی چې له اوله دا وړتیا لری چې نوی ځانګړتیاوی په یو SIP شبکه کی ګډه کړو نو څکه کولای شو په ډیری آسانی سره په یو شته شبکه کی خدمتونه اضافه او ګډ کړو . SIP د دی وړتیا لری چې یوه پراخه او ویشل شوی ساحه کن ټرول او اداره کړی یعنی هغه شبکه چې وسایل یی په مختلفو جغرافیای ساحو ویشل شوی وی نو له همدی امله د اړیکو وړاندی کونکو شرکتونو لپاره ډیر مناسب دی او ګټه ترینه اخلی تر څو خپل ګټه اخیستونکی ته په هر ځای کی او په هر وخت کی خدمتونه وړاندی کړی چې دا خدمتونه د وړتیاوو او خدمتونو یو ځای کیدلو ته راځی چې د converged desktop په نوم یادیږی.[15]

او د converged desktop یا د خدمتونو لاسرسی په مشترک ډول آسانتیاوی هم له ځانه سره لري چې digital وي که analog وی او یا IP ټلیفون وي که کمپیوټر وي خو لا ډیره ښه خبره ده چې د ګټه اخیستونکو ته مختلف خدمتونه په هر ځای کی وړاندی کوي.[15]

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۲.۳.۳.۲ د SIP اړینې برخې یا عناصر

User Agentuser agent : هغه برخه ده چې د اړیکو نیولو، د اړیکو اخیستولو او د اړیکو پریکولو غوښتنه کوي یا تر سره کوی. چې پر دوه ډوله دی.[4]

:User Agent Client (UAC)

هغه برخه ده چې د اړیکو نیولو غوښتنه کوي چې ګټه اخیستونکي وسایل دي لکه یو عام ټلیفون او یا یو ساده او عام کمپیوټر.

:User Agent Server (UAS)

هغه برخه ده چې د اړیکی نیولو په موخه غوښتنه یا غوښتنه اخلی . چې دا شبکی مهم او اړین وسایل دي لکه یوه Gateway او نور سرورونه.دواړه UAC او UAS کولای شی چې اړیکه پری کړی.

لاندی شکل یا تصویر د SIP شبکی جوړښت یا محیط راښایی یا خپله شبکه په ساده توګه راښایی.[9]




[۲.۶] شکل، د SIP پروتوکول د شبکی جوړښت

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۲.۳.۳.۲.۱ Proxy سرور

دا هغه سرور دی چې د client څخه غوښتنه یا درخواست اخلی دا غوښتنه په خپله ګوري او لاربښوونه ورته کوي چې غوښتل شوی آدرس چیری دی چې د یو مینځګړی په شکل عمل کوی . سروراو client ته د دی وړتیا ورکوی چې په غیر مستقیمه توګه د بلی شبکی له خدمتونو څخه ګټه واخلی یغنی د بلی شبکی سره په غیر مستقیم ډول اړیکه ونیسی. چې یو پیغام یا message ګوری هغه ژباړی او بیرته یی لیکی او لیږی یی.[9]

### ۲.۳.۳.۲.۲ Location سرور

Location سرور اصلا د یو SIP، Proxy سرور یا SIP redirect سرور په واسطه استقاده کیږی ترڅو د ګټه اخیستونکی چی غواړی اړیکه واخلی یا د (called-Party) ممکنه ځای او قعیت معلوم کړي.[9]

### ۲.۳.۳.۲.۳ Redirect سرور

Redirect سرور هغه سرور دی چې یو درخواست یا غوښتنه اخلی هغی ته آدرس ښایی یعنی غوښتل شوی آدرس په نورو برخو ویشی تر څو آسانه او واضح شی . بیرته یی client ته رالیږی. د Proxy سرور په شان نه دی چې خپله د خپل ځانه درخواست جوړ کړی یا درخواست وکړی او نه د User Agent Server په شان چې اړیکه یا واخلی یا یی پری کړی.[9]

### ۲.۳.۳.۲.۴ Registrar سرور

Registrar سرور هغه سرور دی چې د ثبتولو درخواستونه اخلی چې تر څو یو ګټه اخیستونکی راجسټر کړی. چې کولای شي ګټه اخیستونکی ته اجازه هم ورکړی . Registrar سرور د Proxy سرور سره یا د redirect سرور سره د یو مرسته کونکي په ډول کار کوی چې دا هم کولای شی د ګټه اخیستونکی د موقعیت په اړه معلومات وړاندی کړی او ورکړی.[9]

دا وسایل یا د SIP وسایل یو له بله سره د پیغامونو یا messages په واسطه اړیکی نیسی چې SIP زیاتر دا پیغامونه او د هغی جوړښت او معنی د Hypertext Transfer Protocol (HTTP) څخه اخیستی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو SIP پیغام یا message د HTTP د message په شان ښکاری چی د message جوړښت، Header یا پیژندنه او د (MIME) Multipurpose Internet Mail Extension وړتیا درلودل هم د SIP آدرس د SIP URL څخه ښکاری او پیژندل کیږی.[4]

لکه user@host.

د SIP پیغامونه یا messages په لاندی ډول ښودل شوی دی.

### ۲.۳.۳.۳ د SIP پیغامونه یا SIP Messages

INVITE: د دی پیغام په لیږلوسره د غوښتل شوي ګټه اخیستونکي څخه غوښتنه کیږي چی په اړیکی کی ګډون وکړي.
ACK: د دی پیغام په لیږلوسره غوښتل شوی ګټه اخیستونکی دا تائیده وي چی د اړیکی نیولو غوښتنه ورته راورسیدله

REGISTER: د دی پیغام په لیږلوسره ګټه اخیستونکی راجستر کیږي په Registrar Server کی.

OPTION: د دی پیغام په لیږلوسره یا پدی پړاو کی د سرور څخه د وړتیاو په اړه پوښتل کیږي

INFO: د دی پیغام په لیږلو سره یوه اندازه معلومات د اړیکی نیونکي ګټه اخسیتونکی ته لیږل کیږي

CANCEL: د دی پیغام په لیږلو سره غوښتل شوی اړیکه ردکیږي یا Cancel کیږي.

BYE: د دی پیغام په لیږلو سره داړیکی د پریکیدو غوښتنه کیږي.

د SIP ځوابونه یا SIP Responses: دا هغه ځوابونه دي چی د غوښتنو په بدل کی ورکول کیږي او په لاندی ډول دي. [4]

معلوماتي پیغامونه :1xx

کله چی غوښتنه بریالی شي :2xx

هغه غوښتنه چی بریالی نه شي :3xx

کله چی په سرور کی ستونزه شتون ولري :4xx

هغه ځوابونه دي چی د Redirect Server له خوا ورکول کیږي لکه کله چی یوه اړیکه له یو ځای څخه بل ځای ته تبدیلیږي. :5xx

دا پیغام چی د Global failure په نوم یادیږي، هغه وخت مقابل لوری ته لیږل کیږي چی د اړیکو اخیستو لپاره ځوک شتون و نه لري او یا ټول مصروف وي او یا هم غوښتل شوی اړیکه شتون و نه لري یا د منلو وړ نه وي **:6xx**

د SIP اړیکو ټینګولو په موخه د شپږو پړاوونو څخه تیریږی یا په شپږو پړاوونو کی اړیکه ټینګوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

1 -د ګټه اخیستونکی راجسټر کول د اړیکو لمړیو پړاوونو پیل کیدل او د ګټه اخیستونکی موقعیت معلومول.

2 ـ د میډیاګانو او د هغو د مشخصاتواو ځانګړتیاوو معلومول یعنی ویډیویی اړیکی نیسی، غږیزی اړیکی نیسی او که کوم بل ډول.

3 -د اړیکی اخیستونکی ګټه اخیستونکی حالت معلومول (شتون) معلومول چی اړیکه اخیستونکی باید ځواب راولیږی تر څو د هغه حالت وښایی چی اړیکه ومنل شوه او که رد شوه.

4 ـ د اړیکی ټینګول د منلو په صورت کی.

5 ـ د اړیکی ساتنه.

6 ـ د اړیکی پری کول یا قطع کول.

لکه څنګه چی پورته وویل شول SIP د یو IETF محیط د یو ځای کیدو په موخه منځ ته راغلی وه . چی اوسني IETF سټنډرډ پرټوکولونه کولای شي هغه یاد شوی غوښتل شوی محیط جوړ کړی د SIP په واسطه. دا پرټوکول کولای شي د نورو اوسنیو IETF پروټوکولونو سره یوځای کار وکړی . لکه Resource Reservation Protocol (RSVP)، هغه پروټوکولونه چی په حقیقی توګه خدمتونه وړاندی کوی (د ډیټا او نورو معلوماتو لیږل په حقیقی وخت کی د QOS سره یو ځای)، هغه پروټوکولونه چی ډیټا او میډیا په حقیقی توګه په حقیقی وخت کی لیږی چی real time streaming protocol په نوم یادیږی او دا پروټوکول د میډیا او د ډیټا کنټرول هم کوی هغه پروټوکول چی د اړیکو د باخبری پروټوکولونه دی چی د Session Advertisement Protocol په نوم یادیږی چی دا پروټوکول ګټه اخیستونکی له اړیکو نه خبر وی چی کولای شی له مختلفو میډیاګانو څخه استفاده وکړی بل هغه پروټوکول دی چی د ویب پاڼو د لیږلو لپاره دی چی د Hypertext Transfer Protocol په نوم یادیږی بلاخره نور هم ډیر زیات پروټوکولونه شته چی SIP کولای شي یو ځای ورسره کار وکړي او مختلف خدمتونه وړاندی کړی چی دا کار اصلا د دو وو خاصیتونو په درلودلو سره کولای شی تر سره کړي چی هغه دا دي SIP-Common Gateway Interface (SIP-CGI) او بل (CPL)Call Processing Language. دا هغه موضوع ګانی او بحثونه دی چی پر بحث کولو یی د موضوع څخه خارجیږو.[9]

نوری ځانګړتیاوی چی SIP یی لری هغه دا دی چی SIP د لیږلو پروټوکول څخه آزاد دی یعنی کولای شی هر پروټوکول څخه کټه واخلی لکه UDP, TCP او Stream Control Transmition Protocols (SCTP) اصلا

(c) ketabton.com: The Digital Library

SIP خپله ځانګړی Quality of Service (QOS) یا د خدمتونو کیفیت او څرنګوالی نلری خو دا کار د نورو پروټوکولو په واسطه کوی چی د SIP سره یو ځای کار کوي.[9]

SIP د امنیتی پروټوکول‌ونو څخه آزاد دی یعنی د SIP سره نور پروټوکولونه د امنیت لپاره کار کوی لکه IP-Security, Transport Layer Secure (TLS).[9]

SIP د اوسنیو IP امنیتی سټنډرډونو څخه ګټه اخلي تر څو د اړیکو په یو ځای کولو کی ورسره مرسته وکړي TLS د SIP سره د سیګنلینګ په خوندي کولو کی هم مرسته کوي بله خوا SIP پروټوکول د Secure RTP (SRTP) څخه هم ګټه پورته کوي چی SRTP میډیا Encrypt کوي ترڅو غېر مصؤن او خوندي شي چی TLS او SRTP دواړه یو ځای کار کوي.[9]

د دی په موخه چی یو ډیر قوی او مصئونه سیستم منځ ته راوړی نظر په هغه سټنډرډونو چی دوی پری ولاړ دی لکه : Advanced Encryption Standard چی یو امریکایی س ټنډرډ دی د ډیټا او نورو معلوماتو لپاره . چی Encryption د ډیټا جوړښت یا شکل تغیر ورکولو ته د مصئون کولو په موخه تر څو نا مسئوله خلکو په لاس ونه لویږي.[9]

SIP یو Peer-to-Peer پروټوکول دی نه IP-to-PSTN پروټوکول لکه MGCP یا H.248 یعنی SIP اصلاً د IP شبکو لپاره جوړ شوی چی دPSTN او نوروشبکو سره د اړیکو نیولو لپاره د نورو پروټوکولونو څخه ګټه اخلي.

SIP د میډیا په برخه کی یو آزاد پروټوکول دی تر څو ګټه خیستونکی لا زیاته وړتیا ولري، یعنی د شبکو او ګټه اخیستونکو لپاره د میډیا د څرنګوالي په برخه کی مخنیوی نه کوي.[9]

### ۲.۳.۳.۴ د SIP پروټوکول کلوکړنه په داخل د ساحه (شبکه) کی

د SIP یوه ښیګڼه دا ده چی د دی وړتیا لري ترڅو د شبکو تر منځ مستقیماً اړیکی ټینګی کړي د انټرنټ پواسطه . د مثال په توګه که چیری دوه سوداګریزو شرکتونو ترمنځ یوه جلسه یا Meeting جوړ شي اوس که چیری دواړه شرکتونه په خپلو شبکو کی له SIP پروټوکول څخه ګټه اخلي دوی کولای شي بدون د اضافي مصارفو د وسایلو او ځای او وخت تعین کولو څخه کنفرنسي اړیکی ونیسي په خپل منځ کی . او دا کار (کنفرانسي اړیکی) به دومره آسانه وي لکه څنګه چی د e-

(c) ketabton.com: The Digital Library

mail کولو په وخت کی د مختلفو کسانو اضافه کول . خو په هغه وخت کی کله چی دواړه شبکی یوازی له SIP پروټوکول څخه ګټه واخلي نه د TDM سویچنګ څخه یا کومی بلی شبکی څخه لکه ISDN چی د دی شبکو د یو ځای کولو یا اړیکو نیولو لپاره مختلفو Gateways ته اړتیا لرو لکه IP-to-PSTN ګیټوی. او د ګیټوی یا وسایلو اړتیا سره سره نورو پروګرامونو یا Applications ته هم اړتیا لیدل کیږي تر څو دا شبکی او د دوی وسایل یو له بل سره ونښلي او کار وکړي.[4]

## MGCP/MEGACO ۲.۳.۴

اصلاً MEGACO هغه پروټوکول دی چی له MGCP پروټوکول څخه یی وده کړی ده او د دواړو ارګانونو IETF او ITU له خوا وراندی یو ځای کار شوی دی او د دواړو له خوا پرمختګ ورکړل شو . چی په IETF کی د MEGACO په نوم یادیږي او په ITU کی د H.248/H.GCP په نوم پیژندل کیږي . دا پروټوکول د دی لپاره د دواړو ارګانونو له خوا وراندی په مشترک ډول کار وشو او جوړ شو، تر څو د CCSS7 او VoIP د یوځای کیدو ستونزی د منځه یوسي لکه H.323 چی د داخلي شبکو یا LAN کی د ګټه اخستو لپاره جوړ شوی وه خو کله چی د داخلي شبکو څخه له بیروني شبکو سره د اړیکی نیولو خبره مطرح شوه او د دی پروټوکول (H.323) پواسطه دا اړیکی باید تر سره شوی وی نو د دی کار تر سره کولو لپاره پدی پروټوکول کی ډیری ستونزی موجودی وی ځکه دا پروټوکول د بهرنیو شبکو سره د اړیکو نیولو لپاره نه وه ډیزاین شوی نو ځکه یی د ګیټوی ګانو او د بهرنیو شبکو سره د اړیکی نیولو لپاره وي او د CCSS7 سره ډیری ستونزی لرلی . تر څو دا ستونزی د منځه لاړی شي پدی برخه کی یوی نوی منځ ته راوړنی یا ابتکار ته اړتیا وه او رامنځ ته شو چی د Gatekeeper رامنځ ته کیدل وه چی Control Signaling د Gateway څخه لاړو او په media gateway controller یا softswitch پوری وتړل شو چی دی وسیلی کولای شول مختلفی او ډیری زیاتی Gateway ګانی کنټرول او اداره کړي.[15]

MGCP/MEGACO پروټوکول د softwitch او د Media gateway ګانو په خپل منځ کی د اړیکی نیولو لپاره دي تر څو دوی وکولای شي یو له بل سره اړیکی ونیسي . د یادولو وړ ده چی Media Gateway Control Protocol (MGCP) او Media Gateway Control دا دواړه جدا پروټوکولونه دي چی MGCP د IETF له خوا په RFC 2705 کی شرح شوی دی چی د ګیټوی ګانو د کنټرول لپاره وه کله چی بهرنی اړیکی راځي شبکی ته دا وسیلی چی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بهرنۍ اړيکې اخلي د Media Gateway Controllers يا د Call agent په نوم ياديږي چې د signaling په برخه کې خپله دنده تر سره کوي او ګېټوې ګانو ته معلومات ورکوي .[15]

MEGACO د مختلفو Multimedia Gateway ګانو چې په يو جغرافيايي فضاء کې يو له بل څخه لرې وي د کنټرول لپاره دی چې دا ګېټوې ګانې چې يو له بل څخه جدا دي د softswitch په نوم ياديږي. بل کار د MEGACO دا دی چې د اړيکو کنټرول يې د ميډيا څخه جدا کړو . او د دې لپاره د IETF او ITU له خوا ورباندې يو ځای کار وشو چې په ITU پروټوکول کې هم يادې شويو ستونزو شتون لرو چې د دې په موخه يې په H.248 پروټوکول کار پيل کړو او IETF په MGCP کار پيل کړو.[16]

MEGACO د MGCP په پرتله ځو پرمختګونه يا ښيګڼې رامنځ ته کړي چې د زرګونو پورټونو د کنټرول او اداره کولو وړتيا يوې Gateway ته ورکوي، او حتی کولای شي دا وړتيا مختلفو Gateway ګانو ته ورکړي او دا وړتيا هم ورکړي تر ځو د اطمينان وړ خدمتونه او اړيکې وړاندې کړي د مختلفو شبکو تر منځ. نو په MEGACO کې ځو ښيګڼې رامنځ ته شوې د MGCP پروټوکول په پرتله نور دواړه يوشان پروټوکولونه دي نو همدې آمله يو ځای ليکل کيږي او ياديږي لکه MGCP/MEGACO.[16]

MGCP/MEGACO يو Master-Slave پروټوکول دی يعنی Master امر کوي يا Command ورکوي او Slave هغه څه اجرا کوي څه چې ورته Master ويلی دي چې Master مکمل کنټرول په لاس کې لري بله دا چې ماسټر د Media Gateway يو کنټرول کوونکی دی چې Softswitch يا Call agent هم ورته ويل کيږي خو Slave خپله Media Gateway ده چې کيدلی شي يوه VoIP ګېټوې وي، يو MPLS router او يا يو IP ټليفون وي او دغه شان نورې وسيلې.[16]

لکه مخکې چې مو ياده کړه MGCP/MEGACO د Media Gateway ګانو د اړيکې نيولو لپاره دی چې Media Gateway ته لارښوونه او هدايت وکړي تو ځو هغه معلومات يا Data چې د بهرنۍ شبکې څخه راځي هغه پکيټبندي کړي لکه RTP. پدې برخه کې Softswitch مختلف کمانډونه ورکوي تر ځو Data د مختلفو آدرسونو څخه واخلي او د دې Gateway ګانو د اړيکې نيولو عيارکول يا جوړونه هم ښايي دا په ډاګه شي چې کومه لاره کومو معلوماتو لپاره بهتره ده. چې د دقيقې کارکړنې په موخه دلته Session Initiation Protocol(SIP) ته اړتيا پيښږي.[16]

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ټولی لاربښوونی هغه وخت تر سره کیږي کله چې یوه Gateway اړیکه نیسي یا ;Off-hook حالت ته ځي، پدی وخت کی Softswitch په خپل کار پیل کوي او ګیټوی کنټرول کوونکی ته لاربښوونه کوي د MEGACO کماندونو پواسطه د ډایلولو غږونه (Dial tone) جوړ کړي او په اړیکه کی یی واچوي او د Dual Tone Multi Frequency غږونه یا DTMF tone راټول کړي چی د اړیکی د اخیستلو یا رد کولو لپاره دي . وروسته د اړیکی اخیستو څخه د ګیټوی کنټرول کوونکی تصمیم نیسي چی څنګه دا اړیکه او د کوکو لارو تر شره کړي د یو داخلي پروټوکول پواسطه چی کیدلی شي SIP وي یا H.323 وي او له اخیستونکي یا غوښتل شوي ګټه اخیستونکی د کنټرول کوونکی سره اړیکی ټینګی کړي، بعد له دی څخه د غوښتل شوی یا اړیکه اخیستونکی کنټرول کوونکی د اړیکی اخیستونکی Gateway خبروي تر څو د هغه وسیله زنګ ووهي . کله چی اړیکی اخیستونکی اړیکه واخیستله د Off-hook حالت ته ځي چی دواړه Gateway ګانی د هغوی د کنټرول کوونکو Gateway ګانو له خوا ورته لاربښوونه او هدایت کیږي تر څو دا غږیزی اړیکی د Data Network یا هغه شبکه چی د ډیټا لپاره ده اړیکی ونیسي . ګیټوی کنټرول کوونکی د استفاده شویو او ورکړل شویو پروټوکولونو پواسطه دا لاربښوونی ورکوي او د دوی د ګټه اخیستونکی له حالت او آدرس یا ځای څخه خبروي.[17]

### ۲.۳.۴.۱ په MGCP/MEGACO کی د ډیټا جوړښتونه

په MGCP/MEGACO کی دوه ډوله جوړښتونه دي د Data د پیژندلو لپاره:

۱: Terminations.

۲: Contexts.

Terminations: اصلاً یو نوم یا ID ده د هغی ډیټا چی له Gateway څخه ځي او یا Gateway ته راځي لکه غږیزی اړیکی چی کله د یو انلاګ ټلیفون نه شبکی ته راځي . Terminations له ځان نه ځانګړتیاوی لري چی نظر په هغو تعینیږي لکه د Jitter اعظمی اندازه چی د Gateway Controller پواسطه ښودل کیږي د دی سره سره ځینی پورټونه هم راښایی.[17]

Contexts: هغه لیکل شوی پیغامونه دي چی د Gateway پواسطه جوړیږي خو د Gateway Controller د کنټرول او اداری له لاندی . اصلاً Terminations هم په Contexts کی شامل او پراته وي چی سره د Terminations او نورو ځانګړتیاو او مشخصات د ډیټا یو ځای Context منځ ته راوړي.[18]

MGCP/MEGACO ځینی کماندونه لیږي تر څو Terminations او Contexts جوړ، اداره او کنټرول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Add: يو Termination اضافه کوي په Context کی او دا هم کولای شي چی په همدی وخت کی یو نوی Context جوړ کړي.[18]

Subtract: يو Termination د Context څخه لری کوي.

Move: يو Termination د Context څخه بل ته انتقالوي.

Modify: په Termination کی تغیرات راولي.

AuditValue and Audit capabilities: د Terminations، Context او د Gateway په اړه عمومي معلومات ورکوي چی د Gateway حالت او ورتیا ښایی.[18]

ServiceChange: د Gateway او د Gateway Controller تر منځ د کنټرول لپاره یوه همغږي رامنځ ته کوي او که ځینی ستونزی منځ ته راغلی وي هغه هم حل کوي.[18]

په لاندی شکل کی د MGCP/MEGACO پروتوکول برخی یا وسایل ( Media Gateway, Media Gateway controller او User equipment) په ښه او مشرح توګه ښودل شوی دي.[18]




**[۲،۷] د MEGACO/MGCP پروتوکول وسایل**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم څپرکی

## ۳.۱ د VoIP درلودونکی ستونزی

که څه هم په VoIP کی د نورو ټکنالوجیو او تخنیکونو په پرتله ستونزی نشته خو بیا هم هغه ستونزی چی پکی شتون لري باید په نطر کی ونیول شي د پامه ونه غورځول شي او تر څو د دی ټکنالوجی تخنیک او میتودونو سره په سمه توګه آشنا شو او ویی پیژنو. بله دا چی دا ټولی هغه ستونزی دي چی د وخت په تیریدو سره او د نویو ټکنالوجیو او تخنیکونو په منځ ته راتلو سره دا ستونزی نسبتاً هواریږي او د منځه ځي خو ځینی هغه ستونزی دي چی په عمومي توګه د منځه ځي او د راتلو امکان یی په راتلونکی کی هیڅ نشته او نه احساسیږي، نو غواړم چی هغه ستونزی په لاندی ډول ولیکم ا و په ګوته یی کړم کومی چی ما د خپل تحقیق په ترځ کی پلټلي او احساس کړي دي . لکه څنګه چی ما مخکی یاده کړه چی پدی ستونزو کی ځینی هغه ستونزی دي چی ټولی به له منځه لاړی شي او په راتلونکی کی به یی د شتون هیڅ امکان نه وي لکه د IPv4 د منځه تلل او د IPv6 منځ ته راتلل نو هغه ستونزی چی په IPv4 کی دي د دی پروټوکول د تلو سره به ټولی له منځه لاړی شي او په IPv6 کی هغه ستونزی نشته ، نوری هغه ستونزی دي چی د نویو ټکنالوجیو او تخنیکونو په راتلو او پلي کیدو سره نسبت په پخوانیو تخنیکونو او ټکنلوجیو د منځه ځي.

پدی برخه کی چون ډیری ستونزی تخنیکي ستونزی دي نو غواړم د ټولو څخه مخکی د ستونزو د هغه ځایه پیل وکړم د کوم ځایه چی دا ستونزی رامنځ ته شوي او سرچینی اخلي. په اوسنیو ټکنالوجیو کی د اړیکو نیولو لپاره د IPv4 څخه ګټه اخیستل کیږي نو دا ښه بولم چی لمړی د دی پروټوکو ل نیمګړتیاوی او ستونزی په ښه او واضحه توګه په ګوته او تشریح کړم.

لکه څنګه چی مو په تیر څپرکي کی یادونه وکړه په IPv4 کی ځینی محدودیتونو شتون درلود چی د دی محدودیتونو له جملی یو د IP آدرسونو کموالی دی چی د دی ستونزی د منځه وړلو لپاره په داخل د شبکو کی او یا بیرون د شبکو له یو ډول تخنیک څخه ګټه پورته کیږي چی د Network Address Translation یا NAT په نوم یادیږي.

### ۳.۱.۱ Network Address Translation (NAT)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوه IP آدرس شریکول په یوه شبکه کی یا د یوه IP آدرس تقسیمول په څو Clients باندی ته NAT وایی. پدی تخنیک کی IP آدرس د ټولو Clients یو شان وي خو فرق یی یوازی په Subnet Mask کی وي، لکه د یوه Client یا ګټه اخیستونکی IP آدرس به پدی ډول وي 222.222.222.222 چی دا په دننه د شبکه کی یو عمومي IP آدرس دی خو د بل ګټه اخیستونکی IP آدرس به هم همدا شان وي 222.222.222.222 بلآخره د ټولو هغو Clients د IP آدرسونه همدا شان وي ترکومو چی موږ دا IP آدرس ویشلی دی خو فرق به یی یوازی په Subnet Mask کی وي لکه د یوه ګټه اخیستونکی Subnet Mask به داسی وي 255.255.255.1 د بل ګټه اخیستونکی به داسی وي 255.255.255.2 نو بآخره دا کار زموږ د شبکی د ګټه اخیستونکو، د شبکی جوړښت او زموږ کړن لاری پوری تړاو لري چی څنګه خپله شبکه ډیزاین کړو یا جوړه کړو. نو نه غواړم چی په دی موضوع باندی لا ډیر بحث وکړم تر څو یو خو به د اصلي بحث څخه بهر شو او بله دا چی د دی پروټوکول (IPv4) ستونزی په ډیره ښه توګه په IPv6 کی حل شوی او د منځه تللی دي نو دی موصوع ته باید دلته د پای ټکی کیږدم . خو دا لازمي ده چی ووایم چی NAT په یوی VoIP شبکی کی څه ستونزی رامنځ ته کوي.[6]

په یوه VoIP شبکه کی د Firewall او Gateway شتون ډیر اړین او مهم دی . فایروال د دی لپاره تر څو زموږ شبکه د امنیتي ستونزو سره مخ نه شي او Gateway د دی لپاره تر څو د بهرنیو شبکو سره اړیکی ونیول شي . خو کله چی موږ په خپله شبکی کی د NAT څخه ګټه اخیستی وي دا آدرسونه اکثراً د Gateway ګانو او فایروالونو لپاره د پیژندلو وړ نه وي نو ګیټوی ګانی ورته غوښتل شوی آدرسونه نه شي په ګوته کولی او کله چی نور آدرسون وغواړي له دی آدرسونو سره اړیکه ټینګه کړي په دی حالت کی ورته دا آدرسونه نه شي پیدا کولی، بله خبره دا ده چی فایروالونه دی آدرسونو ته اجازه نه ورکوي چی د شبکی څخه بهر شي یا ورته څه راشي . نو له همدی کبله دا یوه ډیره د پام وړ ستونزه په VoIP کی بلل کیږي چی باید په پام کی ونیول شي.[6]

### ۲.۱.۳ د خدمتونو څرنګوالی یا Quality of Service (QoS)

د خدمتونو څرنګوالی یا QoS د شبکی د خدمتونو ټولی هغه ځانګړتیاوی په بر کی نیسي چی مستقیماً په اړیکو، د اړیکو په څرنګوالي له امنیتي پلوه او د اړیکو په سرعت یا چټکتیا او د ټرافیک مقدار چی د دی شبکی له لاری ځي او راځي.[6]

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اوسنيو VoIPشبکو کی دا يوه غټه ستونزه ده چی نشي کولای په ښه توګه QoS خپلو ګټه اخيستونکو ته وړاندی کړي. نو کله چی يوه VoIP شبکه ډيزاين کوو د شبکی د خدمتونو عمومي کيفيت يا ځرنګوالی بايد په نظر کی ونيسو تر څو ښه خدمتونه له شته امکاناتو څخه تر لاسه کړو او په راتلونکي کی له ستونزو سره مخ نه شو.[6]

په يوه VoIP شبکه کی د خدمتونو ځرنګوالی يا QoS اصلاً د لاندی موضوع ګانو پوری تړاو لري:

1: Latency

2: Packet loss

3: Bandwidth

4: Jitter

5: Reliability

6: Security

### ۳.۱.۲.۱ Latency يا ځنډ

ځنډ يا Latency هغه وخت دی يا هغه ځنډ دی کله چی د Source يا منبع څخه يو پکيټ ليګل کيږي تر څو چی هدف يا Destination ته ورسيږي چی دی ته يو طرفه يا One-way ځنډ يا Latency وايی او يا هغه ځنډ دی چی د Source يا منبع څخه تر Destination يا هدف پوری، بيرته د هدف څخه تر منبع پوری دی چی دی ځنډ ته Round-trip latency يا ځنډ وايی.[7]

دا هم بايد ياد وساتو په Round-trip latency کی هغه ځنډ هم شميرل کيږي په کوم وخت کی چی په هدف کی Data يا معلومات پراسس کيږي. نو په اوسنيو وسايلو کی چی له اقتصادي پلوه ارزانه وي دا ځنډ په زياته کچه رامنځ ته کيږي . خو مهمه خبره دا ده چی د دی ځنډ يا Latency اندازه څومره وي دا اندازه په عمومي ډول بايد د ۱۵۰ ملي ثانيو څخه کم وي په يو طرفه ډول يعنی د منبع څخه تر هدف پوری، هغه هم کله چی خدمتونه په ښه توګه وړاندی شي.[7]

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو په غړيزو يا هغه اړيکو کی چی په متقابل ډول وي ډيری ستونزی رامنځ ته کيږي ک ه چيری Latency د ۴۰۰ملي ثانيو څخه زيات شي، يعنی په متقابلو اړيکو کی دا مقدار د ۴۰۰ ملي ثانيو څخه زيات نه شي.[7]

### ۳.۱.۲.۲ د معلوماتو دقيق ليږد يا Accurate delivery

د معلوماتو د ليږلو لپاره لاره بايد مخکی له مخکی ځانګړی کړو يعنی دا بايد په ګوته کړو چی معلوما ت د کومو لارو څخه وليږو تر څو په دقيق ډول ټاکل شوي هدف ته په ټاکلي وخت کی ورسيږي.[7]

### ۳.۱.۲.۳ د پکيټونو ورکيدل يا Packet loss

د پکيټونو ورکيدل يا Packet loss د مختلفو لاملونو په ترڅ کی رامنځ ته کيږي خو په ځينو وختونو کی حتی مخنيوی د دی کار ناشونی دی که څه هم د ټرافيک مقدار چی د يوی شبکی څخه ځي يا راځي د اندازه کيدلو وړ دی په شبکه کی د ټرافيک د بيروبار رامنځته کيدو سره يا د Congestion رامنځ ته کيدو سره په شبکه کی د روټرونو او سويچونه هغه Buffers يا هغه بفرونه چی د ډيټا د منظم ليږلو او اخيستلو لپاره دي چی د Queue Buffers په نوم ياديږي پدی بفرونو د ټرافيک د حد څخه زياتيږي نو پدی وخت کی روټرونه او سويچونه دی ته اړ کيږي چی پکيټونه وغورځوي او پريږدي. د پکيټونو ورکيدل په هغه اپليکيشنونو کی چی په حقيقي توګه نه دي لکه ويب بروزرونه او د ډيټا ليږونکي سافټويرونو کی که څه هم د منلو وړ نه دی خو بيا هم دومره نه ده چی په عمومي توګه د منلو وړ نه وي . غير حقيقي اپليکيشنونه معمولاً د هغو پروټوکولونو څخه ګټه اخلي چی په ګرانټي شوی توګه ډيټا ليږي او خدمتونه ترسره کوي لکه

Transport Control Protocol (TCP) چی د ورک او ړنګ شويو پکيټو نو د بيا جوړيدو يا دوهم ځل ليږلو په برخه کی ډير اساس دی او د پکيټ د بيا ليګلو وړتيا لري.[6]

هغه اپليکيشنونه چی په حقيقي ډول خدمتونه وړاندی کوي يا Real-time applications دي چی د User Datagram Protocol (UDP) څخه ګټه اخلي د پکيټونو د ورکيدو په مقابل کی حساس د ی يعنی نه شي کولای چی د ډيټا ورک شوي يا ړنګ شوي پکيټونه بيا ځلي وليږي ځکه چی د دی کار وړتيا نه لري او دا آسانتياوی نه ورکوي که څه هم د ډيټا ليږل په هغو اړيکو کی چی په حقيقي توګه دي څه ګټه نه لري او پدی برخه کی مرسته هم نه کوي. په غړيزو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویډیې اړیکو کې که څه هم میډیا ګیټوې د دې وړتیا لري چې ورکه شوې یا ضایع شوې ډیټا په خپل وخت کې بیرته تر لاسه کړي خو دا بیرته تر لاسه شوې برخه د ډیټا یا د سیګنل د شکل سره یو ځای شي او برابر شي ځکه چې دا برخه د ډیر ځنډ څخه پس را رسیږي او دا باید هم یاد وساتو چې دا ډیره اړینه او مهمه ده چې د سیګنلینګ پکیټونه هیڅ کله نه ورکیږي او نه ړنګیږي او که نه نو د غږ په کیفیت کې او خدمتونو کې به ډیرې ستونزې رامنځ ته شي. دا پکیټونه ځکه نه ورکیږي او نه ړنګیږي چې د Class of Service (CoS) میکانیزم څخه ګټه اخلي، CoS هغه میکانیزم دی چې د اړینې ډیټا پکیټونو ته برتري یا اولویت ورکوي نو کله چې د CoS ځانګړتیاوې د ډیټا لپاره ورکړل شي او په شبکه کې عیار شي، هغې ډیټا ته چې دا ځانګړتیاوې ورکړل شوې دي که چیرې په شبکه کې د ټرافیک بیروبار هم جوړ شي نو هغه ډیټا به د منځه نه ځي او یا دا ډیټا د بیروبار سره نه مخ کیږي.[6]

نور که هر ډول ډیټا وي په هغې کې د پکیټ ورکیدل یوه عامه او معمولي خبره ده او د منلو وړ ده که چیرې په غږیزو اړیکو کې یا مجموعه د ټولو اړیکو کې د پنځه فیصده څخه کم وي او د اړیکو په کیفیت هم داسې د پام وړ اغیزه نه لري.

### Bandwidth ۳.۱.۲.۴

بنډویت چې اصلاً د ډیټا د لیږلو او اخیستلو سرعت په یوه ثانیه کې Bandwidth وایی. په اوسنیو VoIP شبکو کې یوه لویه ستونزه دا هم ده چې نه شي کولای خپلو ګټه اخیستونکو ته د اړتیا وړ او په مناسبه بیه Bandwidth ورکړي تر څو د اړیکو او سیګنلینګ په برخه کې چې کومې ستونزې شتون لري هغه د منځه لاړې شي.[6]

هغه شبکې چې مختلف خدمتونه وړاندې کوي یعنې هم غږیزې اړیکې او هم د ډیټا په برخه کې خپلو ګټه اخیستونکو ته خدمتونه وړاندې کوي پدې شبکو کې باید دا تصمیم ونیول شي تر څو دا په ډاګه شي چې کومو خدمتونو ته څومره Bandwidth ورکړل شي. دا تصمیم مستقیماً د یوې شبکې د وړتیاوو او لرونکي بنډویت سره تړاو لري . که چیرې موږ غږیز خدمتونو ته ډیر کم بنډویت ځانګړې کړو او ورکړو پدې وخت کې به له ډیرو سختیو او ستونزو سره مخ شو په ځانګړې توګه د اړیکو د کیفیت په برخه کې، نو پدې برخه کې باید غږیزو خدمتونو ته او د هغې تړلي سیګنلینګ ته برتري ورکړل شي د نور ټرافیک په پرتله په یوه VoIP شبکه کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بله دا چې ستونزې د بنډویت په برخه کې په VoIP شبکو کې وسایلو پورې هم تړاو لري چې دا شبکې له کومو وسایلو څخه ګټه اخلي، په سرعت سره غږ جوړیږي او د دې جوړیدو لپاره له کومو پروټوکولونه څخه ګټه اخیستل کیږي . څومره چې غږیزې اړیکې په لوړ سرعت او په کم وخت کې جوړیږي هغومره Bandwidth ته ډیره اړتیا پیښیږي چې په عمومي توګه د شبکې د ټول Bandwidth دریمه برخه باید د Signaling لپاره ځانګړې شي په هغه وخت کې کله چې د IP سیګنلینګ پروټوکول څخه ګټه اخیستل شوې وي.

په عمومي توګـه هغه ځانګړتیاو پورې چې Bandwidth تړاو لري هغه دا دي چې د دوی په تغیراتو سره به Bandwidth هم تغیر و مومي.

د اړیکو اندازه یا کچه، د غږ د کوډ کولو میتودونه، د غږ او یا ډیټا د پکیټ کولو سرعت او د غږ د Compress کولو طریقه.

### Jitter ۳.۱.۲.۵

جیټر د هغه وخت اندازه ده کله چې د یو پکیټ څخه د یو ځانګړي وخت طمع کیږي چې په دې وخت کې به هدف ته ورسیږي او هغه وخت چې پکیټ په کې هدف ته رسیږي. لکه څه چیرې د پکیټونو د رسیدلو لپاره یو مشخص وخت وټاکل شي او ۱۰ ms وي او هر پکیټ په لسو ثانیو کې هدف ته ورسیږي نو دا طمع کیږي چې باید په لسو ثانیو کې پکیټ ټاکل شوي هدف ته ورسیږي خو دلته یو پکیټ په ۱۰ ms کې هدف ته رسیږي بل پکیټ په ۱۵ ms کې هدف ته رسیږي او بل په ۱۸ ms کې هدف ته رسیږي. دلته د هر پکیت څخه دا طمع کیدله چې په ۱۰ ms کې ټاکل شوي هدف ته ورسیږي خو یو پکیټ ۵ ms ځنډ وکړو چې اصلي وخت یې ۱۵ ms وه بل پکیټ ۸ ms ځنډ وکړو چې اصلي وخت یې ۱۸ ms وه.[6]

جیټر اصلاً په یوه شبکې کې د ټرافیک د بار یا Load په تغیراتو سره رامنځ ته کیږي او بل دا وجه هم کیدلی شي چې د پکیټ د لیګلو لپاره بله لاره غوره شي پدې برخه کې میډیا ګیټوې ګانې خپله دنده تر سره کوي تر څو غږ متأثره نه شي د پکیټ جیټر په ترڅ کې. که څه هم د دومره مخنیویو سره یو اندازه Jitter رامنځ ته کیږي خو که زیات شي نو اړیکې به له ستونزو سره مخ شي ځکه چې کله میډیا ګیټوې ته پکیټونه په نا منظم ډول راشي میډیا ګیټوې یې غورځوي چې د دې کار په تر سره کیدو سره د غږ په جوړښت او د غږ په سیګنل کې خالیګاوې رامنځ ته شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### Reliability ۳.۱.۲.۶

که څه هم یوه شبکه ځینی، ځینی وخت له ستونزو سره مخ کیږي خو بیا هم د شبکی د ټرافیکو لپاره یوه تګلاره یا پلا ن جوړول ډیره اړینه او ضروري خبره ده . بله دا چی په یوه شبکه کی هغه وخت ستونزی رامنځ ته کیږي کله چی د هغی وسایل په ښه او سمه توګه خپله دنده تر سره نه کړي او یا د دی وسایلو تر منځ اړیکی یا لینکونه شتون ونه لري او په دی برخه کی ستونزی شتون ولري . خو د دی ستونز و د منځه وړلو لپاره یوه سمه او مناسبه تګلاره او ستراټیجي چی شتون لري هغه دا ده چی په شبکه کی د کار کوونکو وسایلو او لارو لپاره هم تګلاری او پلانونه جوړ کړو تر څو میډیا ګیټوی ګانی او میډیا ګیټوی کنټرولرونه د شته اضافي وړتیاوو څخه په ښه توګه ګټه واخلي.[6]

IP شبکی د ځانګړو پروټوکولونو څخه ګټه اخلي ترڅو د دټرافیکو د لیږلو لپاره ښه او مناسبه لاره غوره کړي چی دی پروټوکولونو ته Routing Protocols وایی، چی ټولی IP شبکی د دی پروټوکولونو پواسطه یو له بل سره د ډیټا لیږلو لپاره لارو په اړه معلومات شریک کوي او دا پروټوکو لونه د دی شبکو تر منځ چی کوم لینکونه دي د هغو څخه هم څارنه کوي. میډیا ګیټوی ګانی او میډیا ګیټوی کنټرولرونه د دی پروټوکولونو پواسطه پکیټونه اخلي او کله چی په شبکه کی کومه ستونزه رامنځ ته شي اخیستل شوي پکیټونه بیاځلي لیږي نظر په شته لارو او امکاناتو سره او د ا امکانات نظر په وړتیاو فرق کوي لکه موږ د ډیټا د لیږلو لپاره د کومو ټکنالوجیو څخه ګټه اخلو.[6]

### Security ۳.۱.۲.۷ یا امنیت

امنیت په ټولو شبکو کی اړین او مهم دی په ځانګړی توګه په هغو شبکو کی چی مختلف خدمتونه وړاندی کوي لکه د غږ او ډیټا دواړو په برخه کی چی پد ی شبکو کی امنیت تر نورو ټولو اړین بلل کیږي موږ باید د دی شبکو وسایل تر ټولو مخکی په فزیکي ډول مصئون کړو یعنی په داسی ځای کی یی ځای پر ځای کړو تر څو د غیر مسئول کسانو لاسرسی ورته نا شونی وي او د نورو هغو حملو مخنیوی هم وشي چی د کمپیوټر له لاری کیږي یعنی شبک ی ته لاسرسی و نه لري.[7]

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس د هغو حملو مخنیوی خو کیدلی شي چې په فزیکي ډول کیږي او کولای شو چې د شبکې وسایل په یو مصئون ځای کې ځای پر ځای کړو او و یې ساتو، خو مخنیوی د هغو حملو ګران دی چې په فزیکي ډول نه بلکه د کمپیوټرونو پواسطه او یا د انټرنټ له لارې کیږي، د دی حملو مخنیوی کولای شو د مختلفو پروټوکولونو پواسطه وکړو لکه:

Remote Authentication Dial In User Service (RADIUS) چې دا پروټوکول د پیژندلو یا Authentication، اجازه ورکولو یا Authorization او عیار کولو یا Configuration معلومات لیږي او تبادله کوي یې د شبکې د اجازه ورکولو سرور یا Network Access Server او د نورو سرورونو تر منځ . او بل پروټوکول چې Secure Shell (SSH) دی او امنیتي خدمتونه وړاندی کوي او د شبکې د امن کولو لپاره دی او د لرې ځایه یوی IP شبکې د ننوتلو لپاره چې د شبکې د اداره کوونکو او کنټرول کوونکو پواسطه استفاده کیږي تر څو په شبکه کې سرورونه کنټرول او اداره کړي د یو لرې یا Remote ځای څخه.[6]

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم څپرکی

## پایله

پدی څپرکي کی غواړم د خپل تحقیق او لیکنی پایله په ډیر لنډ ډول بیان کړم . په لمړي څپرکي کی ما د VoIP شبکو د رامنځ ته کیدو په تاریخچی بحث کړی دی چی له تعریف څخه می پیل کړی دی، په دوهم څپرکي کی می د VoIP پر بنسټیزو مفاهیمو باندی بحث کړی دی، په دریم څپرکي کی په VoIP کی په شته ستونزو باندی بحث کړی دی، په څلورم څپرکي کی می د خپل تحقیق او لی کنی پر پایله بحث کړی دی او بلآخره په پنځم او آخري څپرکي کی می د مناقشی، مباحثی او د تحقیق د عمومي پایلی په اړوند لیکلي دي.

د غږ لیږد د IP پواسطه یا VoIP په عمومي توګه یوه مجموعه د میتودونو، پروټوکولونو او د لیږونکو ټکنالوجیو ده د غږ او نورو میډیا ګانو یا Multimedia د لیږلو لپاره د IP پواسطه.

اصلاً ډیټا شبکی چی Packet based شبکی دي او د VoIP شبکو بنسټ دی څیړنی او مطالعات په ۱۹۷۰ زیږدیزی لسیزی کی پیل شولی، چی لمړی پروټوکول د ډیټا شبکو لپاره په ۱۹۷۰ ز کال کی جوړ شو خو په ۱۹۷۳ ز کال کی وربادنی غږ ولیږل شو چی د غږ کیفیت پکی ډیر ټیټ وه . بلآخره په ۱۹۷۵ ز کال کی د Advanced Research Project Agency (ARPA) له خوا په DACH-15-75-C0135 پروژه کی په عملي توګه د غږ لیږل د IP پواسطه یا د ډیټا شبکو پواسطه وڅیړل شو . د وخت په تیریدو سره VoIP هم وده وموندله او هغه بنیګنی چی یی درلودی د خلکو او سودا ګریزو شرکتونو پام یی ځان ته په سوداګریزه توګه راواړوه . په کال ۱۹۹۵ ز کی Volcatec شرکت چی د VoIP په برخه کی لمړنی شرکت بلل کیږي د لمړي ځل لپاره یی VoIP خدمتونه وړاندی کړل، دی شرکت لمړی د دری ملیونه (۳۰۰۰۰۰۰) ټلیفونونو سره چی IP ټلیفونونه وه پیل وکړ خو یوازی ۱۵۰۰۰۰ مشتریان یا ګټه اخیستونکي یی درلودل.

د VoIP په اړه کتاب د لمړي ځل لپاره په ۱۹۹۸ ز کال کی د Henning Schulzrine او نورو مرسته کوونکو له خوا ولیکل شو. د یادولو وړ ده چی دا هم باید و وایم چی په کال ۱۹۹۸ز کی په سلو کی یو ټلیفوني اړیکی د امریکا په متحده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایالاتو کی VoIP جوړولی یعنی د VoIP له لاری تر سره کیدلی. د VoIP لپاره د پرمختګ کال ۲۰۰۶ ز کال بلل کیږي دا هغه وخت دی چې د مخابراتي ټکنالوجیو دوهم نسل وه او پدی وخت کی VoIP له هر لحاظه وده وموندده.

دا وه د دوهم څپرکي لنډه پیژندنه . په دوهم څپرکي کی ما هڅه کړی ده تر څو په ډیرو اړینو بنسټیزو مفاهیمو بحث وکړم چی لمړی په IP په ډیر لنډ ډول بحث کړی دی، په دوهم پړاو کی می د VoIP د سیګنلینګ په برخه کی یوازی په پروټوکولونو بحث کړی دی چی یوازی د VoIP مروج او پرمخ تللي پروټوکولونه په بر کی نیسي لکه H.323 او Session Initiation Protocol (SIP) چی د هر پروټوکول مهمی او اړینی برخی تشریح او بنودل شوي دي.

Internet Protocol یا IP په ۱۹۷۰ ز لسیزی کی پیل شو او په همدی لسیزی کی یی وده وکړه، چی په لمړیو کی یوازی د نظامي موخو لپاره تری ګټه اخیستل کیده . دا پروټوکول اصلاً دری نسلونه یا ورژنونه لري چی (IPv4) Internet Protocol version 4، Internet Protocol version 5 (IPv5) او Internet Protocol version 6 (IPv6) دي. پدی نسلونو کی موږ کولای شو یوازی د دوه نسلونو IPv4 او IPv6 څخه په خپلو شبکو کی ګټه واخلو خو د IPv5 څخه نشو کولای په خپلو شبکو کی ګټه واخلو د دی لپاره چی دا پروټوکول د څیړنو یا Research لپاره ځانګړی شوی دی چی دا څیړنی د چاپیریال مختلفی څیړنی په بـر کی نیسي او د دی څیړنو لپاره خپل خاص وسایل جوړ شوی دي چی دا پروټوکول همدی وسایلو ته مخکی له مخکی ورکول شوی وي، دی وسایلو د جوړونکو له خوا.

د IP څلورم نسل یا IPv4 دا د IP لمړنی نسل دی چی په ۱۹۹۱ ز کال کی یی وده وکړه د دی پروټوکول د آدرس وړتیا یا Address capability یی ۳۲ بیټ ده او Format یا جوړښت یی Decimal دی او ټول شته آدرسونه پدی پروټوکول کی په پنځو برخو یا کلاسونو ویشل شوی دي چی هغه دا دي:

Class A، Class B، Class C، Class D او Class E پدی کلاسونو کی موږ کولای شو یوازی د دری کلاسونو Class A، Class B او Class C څخه په خپلو شبکو کی ګټه واخلو خو د وروستیو دوه کلاسونو Class D او Class E څخه موږ نشو کولای په خپلو شبکو کی ګټه واخلو ځکه دا کلاسونه هم د IPv5 په څیر د ځانګړو اهدافو لپاره ځانګړي شوی دي چی Class D د Multicasting او یا Broadcasting لپاره ځانګړی شوی دی چی دا هم له ځانه خپل وسایل لري او Class E لا اوس هم د راتلونکي او څیړنو لپاره ځانګړی شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په IPv4 کی هر کلاس له ځانه محدود IP آدرسونه لري چی پدی ډول دي د Class A آدرسونه د ۱۲۶-۱ پوری دي، دا کلاس د ډیرو لویو شرکتونو او ارگانونو لپاره دی، د Class B آدرسونه د ۱۹۱-۱۲۸ پوری دي چی دا کلاس د متوسطو شرکتونو او ارگانونو لپاره دی، دریم کلاس چی Class C دی د کوچنیو شرکتونو او ارگانون لپاره دی آدرسونه یی د ۲۲۳-۱۹۲ پوری دي، Class D د ۲۳۹-۲۲۴ پوری آدرسونه لري او بلآخره پنځم کلاس چی Class E دی د -۲۴۰ ۲۵۵ پوری آدرسونه لري.د یادولو وړ ده چی پدی آدرسونو کی دوه برخی دي یوه برخه د Network یا شبکی برخه او دوهمه برخه چی گټه اخیستونکی پوری تړاو لري د Host په نوم یادیږي چی موږ کولای شو د Host په برخه کی تغیرات راولو خو د Network په برخه کی نشو کولای تغیرات راولو او څنگه کولای شو چی د Network برخه او د Host برخه وپیژنو او له یو بل څخه یی توپیر کړو؟ دا کار موږ کولای شو د Subnet mask پواسطه وپیژنو او له یو بل څخه یی توپیر کړو چی Subnet mask یو پیژندونکی دی په دی پروټوکول کی د هر آدرس لپاره.

د IP شپږم نسل یا IPv6 دا د IP راتلونکی نسل دی، دا نسل مخکی له مخکی ډیزاین او جوړ شوی دی ځکه چی څلورم نسل کی ځینی محدودیتونو شتون درلود نو ځکه IPv6 مخکی له مخکی ډیزاین شوی وه تر څو هغه ستونزی چی په IPv4 کی شتون درلود هغه له منځه لاړی شي.

د IPv6 د آدرسونو وړتیا ۱۲۸ بیټ دی او Format یا جوړښت یی Hexadecimal دی او دا طمع کیږي په نږدی څو کلونو کی به په عملي توگه پلي شي په ټوله نړۍ کی.

اوس راځو د VoIP د سیگنلینگ برخی ته لکه څنگه چی می مخکی هم یاده کړه د Signaling په برخه کی ما دوه اړینو پروټوکولونو باندی بحث او تحقیق کړی دی چی یو یی H.323 او بل یی SIP دی.

H.323 پروټوکول د International Telecommunication Union (ITU) یا نړیوالی مخابراتي اتحادیی سټنډرډ دی چی اوه ورژنونه لري یا په اوو پړاونو کی راغلی دی . لمړی ورژن یی په کال ۱۹۹۶ ز کی د ITU له خوا رسماً ومنل شو او اووم ورژن یی په ۲۰۰۹ ز کال کی د ITU له خوا ومنل شو، د دی پروټوکول هر ورژن نظر د بل ورژن د ستونزو په نظر کی نیولو سره راوتی دی لکه تر څلورم ورژن پوری یی د خدمتونو کیفیت یا QoS نه درلود. دا پروټوکول اصلاً یوه مجموعه د پروټوکولونو ده چی Umbrella ورته وایی بل دا چی دا پروټوکول یو غړی د H.23x کورنی دی چی د مختلفو میډیا گانو د لیږلو په موخه د Packet based شبکو لپاره جوړ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم پروټوکول (SIP) Session Initiation Protocol دی چې دا یو Application layer پروټوکول دی چې د اړیکو ټینګولو، اړیکو ساتلو او اړیکو پرې کولو لپاره ترې ګټه اخیستل کیږي . چې دا اړیکې د IP یا د انټرنټ څخه په ګټې اخیستو سره د مختلفو میډیا ګانو پواسطه کنفرانسي اړیکې او ټلیفوني اړیکې دي او د دې میډیا ګانو شریکول دي . د دې پروټوکول نه په ګټه اخیستو سره یو ګټه اخیستونکې کولای شي چې په Unicast ډول او یا په Multicast ډول اړیکې ونیسي.

دا پروټوکو ل (SIP) یو Text-based پروټوکول دی چې HTTP پروټوکول ته ډیر ورتوالی لري، بل دا چې دا پروټوکول د Client-Server ماډل څخه ګټه اخلي.

SIP د Internet Engineering Task Force (IETF) یو سټینډرډ یا پروټوکول دی چې د H. Schulzrine، M. Handley، E. Schooler او J. Rosenerg له خوا اختراع شو چې د ۱۹۹۹ز کال په ۲ د فبروري میاشتې کې پیشنهاد شو او په ۱۷ د مارچ په یاد کال کې د IETF له خوا ومنل شو او په RFC 2543 کې خپور شو چې اوس په RFC 6451 کې شرح شوی او خپور شوی دی.

د SIP عناصر په درې ډوله دي User Agent Client (UAC)، User Agent Server (UAS) او SIP Servers. د SIP سرورونه دا دي: Proxy Server، Registrar Server، Location Server او Redirect Server د دې هر یوه سرور دنده ځانګړې ده او یوه ځانګړې دنده تر سره کوي چې Proxy Server یو منځګړی دی د Client او Server تر منځ چې د Client څخه غوښتنه راخلي او هغه ته لاربښوونه کوي تر څو خپل آدرس ته ورسیږي، Registrar Server دا سرور کله چې Client یا ګټه اخیستونکې غواړي اړیکه ټینګه کړي د هغه آدرس او نورې ځانګړتیاوې له ځان سره راجستر کوي، Location Server دا سرور له ځان سره د دواړو لوریو آدرسونه ا و نور معلومات ساتي او Redirect Server د ګټه اخیستونکي آدرس په نورو کوچنیو آدرسونو ویشي تر څو لا آسانه شي.

راغلو د پروژې دریمې برخې ته دا هغه برخه ده چې په VoIP کې چې کومې ستونزې شتون لري هغه یکې په ګوته شوي او په ډاګه شوې دي . که، څه هم VoIP کې داسې ستونزې شتون نه لري چې د VoIP د ګټې اخیستنې څخه ډډه وکړو او د نور ټکنالوجیو په پرتله حتي هیڅ ستونزې نه لري ځکه دا هغه ستونزې دي چې د وخت په تیریدو سره او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نویو تخنیکونو او ټکنالوجیو په راوتو سره دا ستونزی د VoIP په برخه کی چی شتون لري له منځه به لاړی شي چی هغه ستونزی دا دي : Quality of Service یا د خدمتونو څرنګوالی، د VoIP د وسایلو لوړه بیه، د VoIP پلي کول ستونزمن دي، د VoIP د ټکنالوجۍ ستونزی. د خدمتونو څرنګوالی یا QoSد شبکی ټولی ځانګړتیاوی یا برخی په بر کی نیسی چی مستقیماً په اړیکو، دهغو په څرنګوالی، په امنیت او م صئونیت، سرعت او د ټرافیک مقدار چی دهغی شبکی له لاری تیریږي تأثیر لري. د VoIP د وسایلو لوړه بیه پدی کی که وغواړو چی د خدمتونو کیفیت بهتر کړو او په شبکه کی د Bandwidth مصرف کم کړو، د غږ compression او echo سیګنلونه له منځه یوسو نو د دی کار لپاره موږ اضافی Processing Power ته اړتیا لرو، چی د دی اړتیا رفع کیدو په موخه زموږ نویو او قوي وسائلو ته اړتیا پیښیږي . د VoIP پلي کول ډیر ستونزمن دي دلته که موږ وګورو په عملی ډول سره دا یو ناشونی کار دی چی VoIP په هرځای کی تطبیق کړو، په یو شته شبکی کی که VoIP تطبیق کړو نو دا ډیر یو ستونزمن کار دی او ښه مسلکی کسان ورته په کار دی ترڅو دا کار تر سره کړي د ټکنلوجي ستونزی اوس که موږ وګورو د دی لپاره تر څو ښه خدمتونه د خپلی شبکی څخه تر لاسه کړو نو مختلفو او پرمختللی تخنیکونو او ټکنالوجی ته اړتیا لرو چی په اوسنی ټکنالوجی د NAT یا (Network Address Translation) څخه ګټه پورته کوي چی دا کار په داخل د شبکه کی ستونزی رامنځ ته کوي بل په شبکه کی فایروالونه او داخلی اداره او مدریت د VoIP د اړیکو او ټرافیک ته اجازه نه ورکوي چی تیر شي.

نوری ټولی هغه ستونزی دي چی د خدمتونو څرنګوالي پوری تړاو لري لکه Latency یا ځنډ، Accuracy یا د معلوماتو رسول په ټاکلي وخت او ټاکلي هدف ته، Packet Loss یا د پکیټونو ورکیدل، Bandwidth او Security یا امنیت چی ټولی هغه ستونزی یو خو د ښو وسایلو په درلودو سره له منځه ځي او بل د شبکی لپاره د ښی تګلاری په لرلو سره له منځه ځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مناقشه

پدی څېرکي کی ما د خپل تحقیق په څرنګوالي بحث کړی دی چی خپل تحقیق می له کوم ځایه او څنګه پیل کړو یعنی د تحقیق پر مهال له کومو ستونزو سره مخ شوی یم په ډېر لنډه توګه بیان کړی دي.

زما تحقیق په VoIP کی د VoIP شبکو رامنځته کیدل، د VoIP بنسټیز مفاهیم او په VoIP کی شته ستونزی یا درلودونکی ستونزی دي. اصلاً د ټکنالوجي په برخه کی ټولی پروژی باید په عملي توګه وي په ځانګړي توګه په VoIP کئ خو موږ ټولو ته دا معلومه او ښکاره ده چی زموږ په ګران هیواد افغانستان کی پدی برخه کی ډیری زیاتی ستونزی شتون لري تر څو په عملي توګه علمي تحقیق او څیړنی وشي.

نو کله چی ما خپله پروژه یا تحقیق په VoIP کی غوره کړو ما غوښتل چی خپله پروژه په عملي ډول پیل او تر سره کړم. ما وغوښتل چی لمړی د مختلفو خلکو سره وګورم ، مرکه وکړم او تری وپوښتم چی VoIP څه شی دی، د VoIP په اړه د هغوی رای څه ده او د VoIP د خدمتونو څخه زموږ په ګران هیواد افغانستان کی راضي دي او که نه چی دا زما د تحقیق لمړئ برخه وه ، په دوهم پړاو کی ما غوښتل چی د تحقیق د اړتیا وسایل وموندم او تحقیق په عملي توګه وڅیړم او تر سره کړم بالآخره په دریم پړاوکی می غوښتل چی د VoIP په برخه کی د مسلکي کسانو او پوهانو سره وګورم، مشوره تری واخلم او شته ستونزی د امکان تر حده حل کړم او د منځه ویسم.

پدی دریو پورتنیو برخو کی م ا و نه شو کړلی چی په یوه برخه کی هم بریالی شم . دا ځکه چی کله ما په لمړئ برخه پیل وکړو چی د مرکو او د پوښتنو برخه وه او دی مرکی عام ډول درلود چی د عامو وګړو څخه شروع تر مسلکي خلکو پوری یعنی هغه خلک پکی هم شامل وه چی یوازی د VoIP څخه یی ګټه اخیستله خو نه د خ پلی ګټه اخیستو په راض نه پوهیدل چی له کومی ټکنالوجی څخه ګټه اخلي او د پوهی کچه یی هم ډیره ټیټه وه، دوهمه ډله وګړي هغه وه چی د پوهی کچه یی لوړه وه او د ښوونځیو زدکوونکي او د کابل پوهنتون د مختلفو پوهنځیو محصلین وه، دریمه ډله خلک هم مسلکي محصلین او مسلکي وګړي وه، دلته هدف د مسلکي وګړو څخه د ټکنالوجي په برخه کی مسلکي وګړي دي نه د VoIP په برخه کی. نو کله چی ما له دوی سره مرکه وکړله لمړیو دوه ډلو هیڅ ډول معلومات نه درلودل پدی برخه کی تر هغه چی د امکان تر حده ما وپوهول خو دوی بیا هم نه شو کولای چی په سمه توګه قضا وت وکړي. راغلو دریمی ډلی دا ډله د دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره چې مسلکي ډله هم وه خو د VoIP په اړه، د خدمتونو په اړه او نور څرنګوالي په اړه سم معلومات نه درلودل که څه هم دی دری ډلو د VoIP څخه ګټه اخیستله ځینو د خپل ګرځنده ټلیفونونو پواسطه او ځینو د انټرنټي شبکو پواسطه.

راغلو دو هم پړاو ته د اړتیا وړ وسایلو آماده کولو پړاو وه چې پدې پړاو کی ما باید هغه وسایل آماده کړي وای کوم چې زما د تحقیق لپاره اړین وه چې پدې پړاو کی هم زه متأسفانه بریالی نه شوم او پاتی راغلم، دا ځکه چې په لمړي کی ما وغوښتل چې دا وسایل خپله د بازار څخه په بیه راونیسم خو د وسایلو د لوړی بیی له امله می و نه شو کړای چې دا وسایل په بیه راونیسم، نو بیا می وغوښتل یوی ښوونیزی موسسی ته ولاړ شم او هلته په تحقیق پیل وکړم خو هلته می هم ونه کړای شول چې بریالی شم ځکه په ځینی موسسو کی د اړتیا وړ وسایل نه وه او ځینو نورو د مختلفو لاملونو له امله اجازه را نه کړه بیا می وغوښتل چې یو خیریه ارګان ته یا یو سوداګریز شرکت ته لاړ شم خو هلته هم راسره چا مرسته و نه کړله او بالآخره دلته هم بریالی نه شومه او پاتی راغلم.

پیل می وکړو په دریم پړاو چې دا هغه پړاو دی چې ما باید د هغو وګړو سره لیده کاته کړی وای چې په VoIP کی مسلکي دي او د VoIP پوهان دي، پدی پړاو چې کله ما پیل وکړو تر څو دا وګړي ومومندم او مشوره ور ځینی واخلم ما وکړلی شول چې پدی برخه کی مسلکي وګړي ومومندم خو له بد امله هغوی وخت نه درلود چې له ما سره پدی برخه کی مرسته وکړي.

نو کله می هم و نه شو کړلی په پورتنیو دری برخو کی بریالی شم ما هوډ وکړو چې د خپل تحقیق لپاره تګلاره بدله کړم او په بله بڼه تحقیق پیل کړم یعنی نه په عملي توګه بلکه په تیوري یا کتابی توګه یی پیل کړم دلته ما پیل وکړو چې د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجی په برخه کی مختلف کتابونه و پلټم او مطالعه یی کړم . نو لاړم د خپل انستیتوټ (د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوجۍ) کتابتون ته هلته می کتابونه وپلټل او مطالعه می کړل خو په هغو کتابونوکی د VoIP په اړوند په ځانګړي توګه څه نه وه .

نو ما وغوښتل چې لاړ شم بازار ته او هلته داسی کتابونه ومومندم چې د VoIP په اړه وي او راویی نیسم خو هلته هم داسی کتابونه نه وه پدی برخه کی چې د VoIP په برخه کی ځانګړي وي. نو و می غوښتل چې لاړ شم او په انټرنټ کی یی وګورم او بلټنه وکړم چې د خپل انستیتوټ د انټرنټ څخه می ګټه واخیستله او بالآخره بدی برخه کی بریالی شوم چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

انټرنټ څخه مې د VoIP په برخه کې ډېر ښه او مفید کتابونه راواخیستل او د ځینې ښو او معتبرو انټرنټي سایټونو څخه مې ګټه واخیستله چې د سرچینو او مأخذونو په برخه کې ټول په ګټه کړي او لیکلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سرچینی او مأخذونه:

[1] Daniel Minoli, "Voice Over IPv6," Architectures for Next Generation VoIP Networks. Burlinton: Elsevier Inc. 2006.

[2] Syed A. Ahson, Mohammad Ilyas, "VoIP Handbook," Applications, Technologies, Reliability and Security: CRC Press, Taylor & Francis Group. 2009.

[3]Ted Wallingford, "Switching to VoIP," A Solution Manual for Network Professionals: O'Reilly Media, Inc. 2005.

[4] Johnston,Alan B, "SIP: understanding the Session Initiation Protocol", Artech HousePublishers, 2001.

[5]J.Davidson, J.Peters, M.Bhatia, S.Kalidindi, S.Mukherjee "Voice over IP Fundamentals,Second Edition" Cisco Press, 2006.

[6] B. Goode "Voice over Internet protocol (VoIP)" Proceedings of The IEEE, VOL. 90,NO. 9,2002.

[7] T. Kelly, "VoIP for Dummies", Wiley Publishing Inc., 2005.

[8]http://www.whichvoip.com/voip/articles/voip_history.htm

[9]http://www.voip-info.org/wiki/view/VOIP+Service+Providers+Business+Australia

[10]http://www.protocols.com/voip/posvoip.pdf

[11]http://www.packetizer.com/ipmc/h248/history.html

[12]http://www.ietf.org/html.charters/sip-charter.html

[13]http://www.packetizer.com/iptel/h323/

[14]http://www.packetizer.com/ipmc/papers/understanding_voip/voip_introduction.html

[15] https://mice.cs.columbia.edu/getTechreport.php?techreportID=615&format=pdf&

[16] https://mice.cs.columbia.edu/getTechreport.php?techreportID=365&format=pdf&

[17].http://embedded.eecs.berkeley.edu/Respep/Research/classes/ee290a/fall02/slides/VoIP.pdf

[18].http://www.radford.edu/content/dam/departments/administrative/doit/Auxilliary/Telephone/RU-Phone-Guide.pdf

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**